# یوه څلوېښتي په وطن کي

(یونلیک)



لیکوال

محمد معصوم هوتک

(۲۰۱۲ع)

Ketabton.com

www.hotakonline.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه پردا وطن غريب بې قدره ناست يم
قدردان ياران مي دي په قندهار کښي
(عبدالرحيم هوتک)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسمه تعالی

د۲۰۱۲ع کال داپریل اوله دیکشنبې ورځ وه چي د ټورنټوله پېرسن هوايي ډګرڅخه مي دخپل پلرني ټاټوبي په نیت مخ پرلندن (انګلستان) ونیو. په سفرکي راسره دژوندد سفرپرملګري سربېره مي مشرزوی، ذکي اوکشره لور، تنکۍهم راسره ول. دسفرپلان مي داسي وو ،چي په لندن کي به دخپل مشرزوی ددسمال مراسم تېروو اوپه دابله اوونۍ کي به زه مخ پروطن ملاتړم اودوی به "ډب زړګیه ډب" بیرته خپل ګړبېدلي کور(اوشاوا ) ته ستنېږي.

ددوشنبې په ورځ سهاردلندن پروخت دنهوبجوپه شاوخواکي دلندن ښاردګېټویک هوايي میدان ته ورسېدو. داکازامنواوخوریبي په لیدلومي پسله شلوکلونو څخه سترګي روښانه سوې. دې خدای وهلي مهاجرت دافغانانوکورنۍ داسي سره وپاشلې چي زوی ئې له پلاره اولورئې له موره اودوستان ئې له خپلوانوڅخه په سووزره فرسخه لیري وغورځول اودبیاراغونډېدلو هیله ئې " خیال و محال وجنون "ښکاري. دچاخبره ،ناشکري به نه کوم، اوس هم ښه ولاړه ده، توبه ئې تربترو ، د دوستانولیدنه کتنه دزوی زېری دئ. زړې کیسې ـ ژوندوته دسر دوعاوي ـ مړوته پاتاوي ـ غم دي خدای لیري لري، دښادیوتابیاوي ټولي زموږددافغاني ژوندورځنۍ مسئلې دي. دغه ورځ مي په همدې ډول تېره سوه. دشپې مي نظري صاحب او باوري صاحب ته تیلفونونه وکړل اوله هغوی سره مي داسي پلان جوړکړ، چي دپنجشنبې په ورځ ( داپرېل درېیمه)به په هغه غونډه کي برخه واخلوچي دپوهانددکتور زیار صاحب دپنځه اویایمي کالیزي په ویاړسرښته سوې وه اودجمعې په ورځ ماښام به دلندن مېشتوفرهنګیانوپه ماښامني بانډارکي ګډون کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دابله ورځ مي دباوري صاحب په ملتيادنظري صاحب کتابتون وکوت. ځيني پخواني نوادرئې پکښې راغونډکړي ول. کتابتون ئې په ښېنظمۍ کي دښتن دخپل ژوندښه پوره نمايندګي کوله. ځيني سالنامې مي پکښې وکتلې اود(ويښ زلميان) کتاب مي ځني واخيست. راباندي پخه ئې کړه چي سودا په مالچه ده، عوض به ئې ورلېږم. ورسره ښه مي کړه اوپه زړه کي مي وويل چي دکتاب دغلاروايت خوظهيرفاريابي د خپل ديوان په ارتباط په مکه کي هم ورکړی دئ:


"ديوان ظهير فاريابی + درمکه بدزداگربيابی "

له دغه خاص حکم څخه به عامه استفاده وکو. زماپوردي پرکارګه وي، دکارګه مرګی دي نه وي.

دپنجشنبې ورځي ته مي تلوسه وه. دزيارصاحب کاليزي ته ورتګ مي خپله فريضه ګڼله. که څه هم غونډې ته نابللی مېلمه وم . خوپه دغه محفل کي زماګډون يوه فرهنګي اړتيااويوه ټولنيزه وجيبه وه. زه دخپل استادپوهاندزيارصاحب سره پرځينوعلمي مسائلوباندي دنظرڅه اختلاف لرم اودااختلاف مي پټ کړی هم نه دئ. کتابونه، مقالې، د مقالوجوابونه اومرکې مي کړي دي. ځينوټاکلومتعصبوکړيوزمادغه رازعلمي فعاليت ته دختيځي اولويديځي لهجې ترمنځ دټکررنګ ورکړی دئ اوپه ناځوانۍ سره په پښتنوکي ديوبل درزاچولوله پاره لاس وپښه وهي. په افغانانوپه تېره بياپښتنوکي چي ځوک دچادنظرپه باب مخالفه رايه ورکوي، نولېوني ته خدای ډول په لاس ورکي، ډبوه ئې اودسرماغزه په چپه کوه. فقط ته به وا، د سردښمني دي شروکړه. ددغه ناوړه اوکرکجن دود دماتولوله اسيته اودپوهاند زيار صاحب دعلمي کاراواوړده فرهنګي ژونددستايني په نيامت د اپريل پرپنځمه (۲۰۱۲ع) ټاکلي غونډې ته ورغلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library





پوهاندزيار ـ معصوم هوتک
(لندن ـ انگلستان)
**۵** / اپريل / ۲۰۱۲ع

غونډي ته زماورتگ دپوهاند صاحب په گډون دډېرونورودوستانوله پاره دپرنگيانوپه اصطلاح (surprise) وو. دغونډي چلوونکي راته هرکلی ووايه اوپوهاندصاحب هم پخپلولنډوخبروکي زماله ورتگ څخه په درنوالفاظوکي مننه وکړه. په غونډه کي مي ويناوکړه اوپه هغې کي مي دپوهاندصاحب داويايمي کاليزي له بابته دوی اوددوی کورنۍ ته مبارکي وويله. پردغه خبره مي ډېرزورواچاوه چي موږافغانان بايدپه علمي مسائلوکي دنظراختلاف ، خدای مه کړه، دښمني ونه گڼواود اختلاف زغملو، اوربدلواو لوستلوکلتورته پخپلومنځوکي وده ورکړو. دپښتوژبي اوادب په برخه کي مي داستادعلمي کارونه وستايل، هغه مي له" غره" سره مشابه وبلل اوپرزياته مي کړه چي دغره لاراواره نه وي، ځيني برخي ئې دغره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ختونکوپرطبعه برابري نه وي اوختونکي دځينوډېرواوخندونوپه ايسته کولوسره خپله لارپکښېږي مومي. په علمي اوژبنيومسائلوکي مي اختلافي نظرونه د " تېز " او " انتي تېز " دقانون له مخي دتکاملي بهېرله پاره لازم وګڼل ، دنظرياتوله اختلاف څخه مي ديوه معقول "سنتېز " دراوتلواکاډميکه موضوع بيان کړه اوپرزياته مي کړه چي دپوهاندصاحب ژبنۍ څېړني اوپرهغوباندي دمعياري ژبي فيصله وروستۍ فيصله نه ده، بلکي ددوي دنظرياتواومخالفونظرونوله "سنتېز " څخه به دمعياري ليکدوداومعياري ژبي آخري شکل راوزي. همداانګېرنه مي بياد خپل علمي فعاليت له پاره "مُجوِّز" وباله. ما پخپله ويناکي داهم وويله چي که زماپه ځينوليکنوکي کومه داسي کلمه راغلې وي چي زماداراديې پرخلاف ئې پوهاندصاحب خدای مه کړه، خوږکړی اومتاثرکړی وي، زه ددې حاضرمجلس په مخ کي ور څخه معذرت غواړم. په مجموع کي زماهدف داوو، چي وښيم، زه له پوهاندصاحب سره شخصي څه نه لرم. علمي اختلاف مي يوه بشپړه طبيعي مسئله وبلله اوپه مثال کي مي دپټي خزانې پرسرهغه اختلاف ته اشاره وکړه چي پوهاندزيارصاحب ئې له خپل ناروېژي استاد فقيدمارګنستيرنې سره لري اوپټ کړی ئې هم نه دئ. داچي زه به په دې پيغام رسولوکي څونه موفق وم، دهغې اټکل اوس نه سم کولای. پخپله پوهاندصاحب زماله خبرو څخه خوښ ښکارېدئ اوڅوواره ئې يادګاري عکسونه راسره واخيستل. دخپل کتاب (پښتوپښويه) نوی چاپ ئې راکړ.زه په دغه غونډه کي له خپل دغه ګډون څخه ډېر راضي يم اوله نوروڅخه هم غواړم چي پخپلومنځوکي ددغه راز روحيې د ايجادولواوپاللوکارته دلومړيتوب حق ورکړي.ډېروحاضرينوپه دغه غونډه کي زماګډون دغونډې دبرياليتوب يو عامل وباله. دغونډې راپورپه مبډياکي لکه څرنګه چي لازمه وه ، خپورنه سواوپه پښتو سايټونوکي ئې انعکاس تت وو ، چي بايدنه وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغونډې په پای کې ښاغلي سپين تنې راڅخه وغوښتل چې دبي بي سي راديوله پاره زمااودزيارصاحب په ګډون يوه مناظره وشمه غونډه جوړه کړي چې ګوياله دې غونډې څخه به ځوانان دپښتوليکدودپه برخه کې فايده واخلي. ماورته وويل چې ماله پوهاندصاحب سره يوځل په راديويې پروګرام کې برخه اخيستې ده چې تفصيل ئې مادخپل کتاب "پرمعياري ژبه دمعيارپه ژبه يوه څېړنه" په دوهم چاپ کې بيان کړی دئ. که ځوانان علاقمند وي، هغه دې ولولي. نورنه غواړم چې د کدورتونوفضاپراخه کړم. ښاغلی اکبرکرګرچې په دغوخبروکې حاضر وو، زماخبره تائيدکړه.



پوهاندزيار-معصوم هوتک
۵ / اپريل /۲۰۱۲ع
لندن-انګلستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



دجمعې په ورځ ( داپرېل شپږمه ) دلندن مېشتوفرهنګيانوغونډې ته نه ولاړم، ځکه ځوانان زمادزوی ددسمال په سرښته مصروف ول او مادددوی له مرستي پرته دغونډي ځای ته ځان نسوای رسولای. سبا ته مي ددسمال مختصرکورني مراسم ترتيب کړي ول. وړوکی،خو،له خوښيواوخوشاليوډک محفل وو. پاک خدای دي دوی خوشاله اواوږد مشترک ژوندورپه برخه کړي.

له مفتون صاحب سره مي په تيلفون کي خوپلاخبري وکړې اودده له زيات ټينګارسره سره مي ونسوای کولای چي ورسره وګورم. دګران هارون خپل دليدوارمان مي هم پرزړه پاته سو.

داپرېل پراتمه مي وطن ته دسفرموزې په پښوکړې،دزړوګلوباغ مي پرخدای وسپاره. ناصرجان ريشاته مي سپارښتنه وکړه چي دپوهاند زيارصاحب دغونډې په باب يوه ليکنه وبيپانوته ورسوي. وروسته خبرسوم چي ښاغلي ټکورصاحب اطمنان ورکړی وو، چي داکاربه کوي. خومائې دليکني ځرک ونه موند. ښايي دپېلوځي په پروګرام کي ئې راپورخپورکړی وي. زه ددوبۍ له لاري کابل اوبيا کندهارته رهي سوم. په دوبۍ کي مي دکام ايردفترپه موندلوکي ښه پوره سرګرداني وليدله. بالآخره مي له اووساعتوانتظاروروسته دسيمه ييزوخت دسهارپردوونيموبجوپه کام ايرهوايي شرکت کي مخ پرکابل سفرپيل کړ. دچوکۍ ملګری مي يوهراتی ځوان وو ،چي دعمرزيات وخت ئې په ايران کي تېرکړی وو. پرلاري ئې ژبني وسياسي بحثونه راسره وکړل. له پښتنوسره ئې ضديت، له ډېراحتياط سره سره نسوای پټولای. ما په زړه کي دافغاني زلميو داذهانوپردغه رازانحراف باندي ډېرافسوس وکړ. ده ته مي دقومونوپريووالي اوملي اتحاد باندي ښه ډېري نصيحت وشمه؟خبري وکړې خوليدله مي چي له ظاهري ښه ښه ويلوسره ئې دخاشې اغېزه هم نه پردرلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کابل ته دسهارپرځلوروبجومع الخير ورسېدم او دا وار مي شپږکاله وروسته دخپل پلرني وطن پرخاوره قدم کښېښوو. دهوايي ډګرپه بې نظميوکي مي واسکټ،څادر،سپيني رخچيني اوسپيني ږيري ډېرپه دردوخوړل. هرچاراسره مرسته کوله او " حاجی صاحب،ايسوبيا "، " حاجی صاحبه راه بتين "، " سپين ګيرې دې واله راشه " اونوردمرستي ږغونه راباندي کېدله. په زړه کي باغ باغ کېدلم چي لږترلږه خود مهاجرت دبې هويتۍ له شواخونه ځخه سمدلاسه خلاص سوم. دلته که په وطن کي له اوربدوځخه نورډېرارزښتونه له منځه تللي دي، دايو ارزښت ، دسپيني ږيري درناوی اودمشراحترام خولاشکرپرځای پاته دئ. رشتياهم په مهاجرت کي خوداحقيقت هره شېبه چاته ثابتيږي چي:

"پردی وطن دميړوقدرکموينه "

له هوايي ډګرځخه مي دوتلوپلان نه درلوداوترځلورساعته انتظار وروسته مي دکندهارپرهوايي ډګرګام کښېښوو( داپرېل نهمه ۲۰۱۲ع). ګڼه ګوڼه دونه زياته نه وه. دخپل خوريي ،ګلالي، په لټه کي سوم. په سترګه مي نه سو. په زړه کي مي راوګرځېدل چي نه ګانه سره تېروبېر سوي نه يو. دخلکوله تولۍ ځخه يوه ځوان راباندي ږغ کړه : " هوتک صاحب په خيرراغلې، بل ورسره ملګري ځوان مي له لاسه بکس واخيست اوله ميني ډک روغبړئې راسره وکړ. دغه لومړی ځوان کندهار مېشتی فرهنګي شخصيت ښاغلی فروتن وو، چي دکوم دوست دراتګ په انتظارولاړ وو اوناڅاپي ئې پرماسترګي ونښتلې. بکس ئې موټرته پورته کړاو ما ته ئې دمخ په سيټ کي ځای خالي کړ. مادخپل خوريي دځنډخبره ورته وکړه اوده ويل "مورږدي تول په خدمت کي يو ، غم ئې مه کوه ". په خارج کي دبې هويتۍ پېتی نورهم سپک سو.د بېګانګۍ روحيې داپلا ښه تېنګه ځپېړه پرمخ وخوړه.غاړه مي وکښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اودغروراحساس مي وکړ. له فروتن سره دوې نوري ښځې هم په موټرکي ناستي وې اوده په مهربانۍ سره ډاډورکاوه چي موري !زه دې هم دزوی پرځای یم، هرځای چي دې کور،وي رسوم دي. دې ښځمنوهم ښارته دتلوامکانات نه درلودل او داسي ښکارېدل چي فروتن ځوان نن خدايي خدمتګارۍ ته ملاتړلې ده او بېوزلې و بې وسيلې هيوادوال په داوطلبانه توګه وړیاترکوروپوري رسوي. پرهمت، ميړاني اوعالي احساس دې برکت وي. موټرڅومتره مخ ته لانه ووتللی چي زماخوريې رانښکاره سو اوله فروتن اوملګري څخه مي ترمنني وروسته خدای په اماني واخيستله اوپه دابل موټرکي مخ پرښاررارهي سوم. دهوايي ميدان شاوخواسړکونه اوودانۍ راته نوي ښکارېدلې خونورنوغر اشنا ،خاوره اشنا ، هوااشنا ،دوړې اشنا ، مرغان اوآوازونه ئې اشنا ،ژبه اشنا ، هرڅه اشنا خوڅېرې (چهرې) نااشنا. کندهارخويووخت داسي ښارو و چي دليکراج هندوخبره یوسړی به دې هره ورځ دوه درې واره په مخه درتلئ. سهاربه دې وختي دقصاب پردوکان دغوښواخيستلو پر وخت وليد ، بيابه دې چارسوته دتګ په وخت کې په مخه درغلئ، غرمه به دې بياکورته دتګ په حال کې سلامالیک ورسره وکړ، ماپښين بيا اوماخستن بيا. پخواپه کندهارکي داخبره دعام وخاص پرخولوجاري وه چي ددې ښار اوسېدونکي که سره وپلټې، هرومروبه دې له خپلوانوڅخه وي. کوچنی ښار وو، خاندانونه ئې معلوم ول، خېښۍ ئې پخپلومنځوکي وې،له ابايي کوروڅخه کډه کول ئې نه خوښول،عنعنيي (دوديزه) ټولنه وه، دکوڅې مشر، دمحل سپين ږيری، دماجت ملااوامام ، دناحيې مامور ،نورسرکاري خلک اود حکومت کارکوونکي به هرچاپېښت پرېښت پېژندل. اوس خبره داسي نه وه. دهماغه هوايي ډګرڅخه راته څرګنده سوه چي ماليدلي زاړه ياپه هديروکي دي،ياپه ليروهيوادوکي، ماليدلي ځوانان سپين ږيري سوي اوله پېژندلووتلي دي، ښارته له شاوخوااولسواليو، ورڅرمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولایتواودهیوادله نوروسیموڅخه په سووزره خلک رابهېدلي اوپه ښارکي میشته سوي دي. اوداهغه لازمي واقعیتونه دي چي جنګونه، جګړې اوپرله پسې پاچاګښتي ئې له ځانه سره لري. پښتانه وایي : په جنګو کي حلوانه وېشل کیږي.

کورته ژرورسېدلو. خوراونور دوستان مي په لیدوډېرخوشاله سول. دغه ورځ مي ټوله دپښوپه سختودردونوتېره کړه. دپړکیوماهیچې مي سره اوښتي وې. نه مي په ناستي ارام کېدئ اونه په ولاړي. ماښام ته زمادپنځوسوکالو اشناحاجي اخترمحمدخان له زوی سره یوځای کورته راغئ. دپښوددرددواوي اودمالش ملهمونه ئې ورسره راوړي ول. زوی ئې دنرسینګ پوهنه اوتجربه دواړه لرله. زمادتکلیف سوده په وسوه. ترڅه آرام وروسته په دابله ورځ سهارپه شنه خړه سمدلاسه دمورو پلار زیارت ته ولاړم اودخپلي پلرنۍ هدیرې ټولوقبروته مي ددوعالاسونه پورته کړل. کندهارته زما تر وروستي تګ وروسته زموږپه هدیره کي زموږله نزدې خپلوانوڅخه ځلور پنځه قبرونه زیات سوي ول. پاک خدای دي ټول وبخښي.

مسافرته دهرکلي ویلودوپه پښتنوکي غښتلی دئ . زموږکورته هم دخپلوانو،دوستانو،اشنایانو، دکوڅي اومحل دګاونډیانواونورو شناخته خپلوراتګ پیل سو. زیاتره ئې زماد اروانښادي موردپاتاله اسیته هم کورته راتلل. زمامرحومه ومغفوره مور حجانۍبي بي حلیمه ،چي موږپه کورکي (ادا ) بلله ،د ۱۳۸۹ ش کال دقوس پر۲۸مه = ۱۹ دسمبر۲۰۱۰ع کال دیکشنبې په ورځ دسهارپر ځلوروبجوولسو دقیقو په کندهارکي وفات اوپخپله پلرنۍ هدیره کي ښخه سوه. جنازې اوپاتاته ئې له بده مرغه ماځان ونسوای رسولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کورکي تريوڅه استراحت وروسته دخپلي کورنۍ دمشرانودليدوپه نيامت دکندهارښارپه ختيځ کي د(عينومېني) په نامه نوي ښارګوټي ته ولاړم. دغه ښارګوټی دفرقي دپخوانۍ سيمي پراورشوودان سوی دئ. دودانېدلوچاري اومفکوره ئې په ځانګړې توګه دښاغلي حميد هيلمندي، محمودخان کرزي اونوروداېتکارنتيجه ده. دغه ښارګوټی د يوه عصري اومدني ښارټول وسايل اوامکانات لري.منظم ښاري پلان، عصري ودانۍ، پراخ سړکونه، ښوونځي، دسپورټ ميدانونه، کلينيکونه،عصري مارکيټونه،پوهنتون اونوري لازمي ودانۍ ټولي پکښې په پام کي نيول سوي دي اوځيني خوئې بشپړي سوي لاهم دي. ددغه ښارګوټي دوهم فېزدظاهرشاهي کانال (لو ويالې)شمال ته تر تورو غروپوري غزېدلی دئ. دمځکوبيه ئې فوق العاده لوړه سوې ده او ځينو کسانوته ئې دثروت غونډولوښه زمينه برابره کړې ده. دغه ښارګوټی که له خپل لومړني پلان سره سم انکشاف وکړي اود قدرتمندانودحرص و آز قرباني نسي، دراتلونکي کندهارپر ښکلا او مدنيت باندي ډېري مثبتي اغېزې کولای سي. دکندهارپه عادي خلکوکي ددغه ښارګوټي دمځکو په باب دغصب وقبضې يولړکيسې اورېدلي کېږي چي دصحت وسُقم معلومول ئې ګرانه خبره ده خود افغانستان په جګړه ځپلي ټولنه کي ددغه رازحوادثوداستانونه يونه دئ، دوه نه دي، درې نه دي،بلکي په سوو دي. خودکندهارښاروال ښاغلي عمرعمر پخپله يوه مرکه کي چي د۲۰۱۲ع کال دجون پر۱۲مه نېټه لراوبر وېبپاڼي خپره کړې ده،ويلي دي چي:

" .... ښاروالۍ رياست په ۱۳۸۲لمريز کال کي دغه ساحه د عينو مېني ښارګوټي لپاره خرڅه کړې ددې ساحې په بدل کي يې د ملي دفاع وزارت ته د تور کوتل په سيمه کي همدومره مځکه ورکړې ده....له لويه سره پر دې ښارګوټي ۹۳ ميليونه ډالره سرمايه ګزاري سوې او وروسته بيا اته سوه ميليونه ډالر د شخصي سکتور لخوا هلته لګول سوي او پانګه اچونه پکښې سوې ده. "

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږدېراخي کورنۍ ځخه ځوکوره په همدې ښارګوټي کي اوسېږي او زه دخپل مشراکادزوی مولاناعبدالباري صاحب دليدلوپه نيت ورغلم. مولانا صاحب په قمري حساب نوي کلونوته نژدې سوی دئ. په ځواني کي ئې دديني علوموزده کړې بشپړې کړې دي اودکندهاردلوی عالم اومحدث ملاشراف الدين اخندزاده عليه الرحمة اودغه راز دمرحوم چټ ملااختر محمداخندصاحب له شاګردانو ځخه دئ. پلارئې حاجي عبدالباقي هوتک د خپل وخت ديني عالم اود پښتوژبې شاعروو ، چي د پښتوژبې ادبي تذکروئې زمادليکنوپربنسټ يادوني کړې دي. مولانا صاحب دژوندپه چاروکي تجارت ته مخه کړې اودعلم لارځني پاته سوې ده .تېرشل کاله ئې په کراچي ښارکي دمهاجرپه توګه تېرکړې دي. په دې وختوکي کندهارته بيرته راغلی دئ،له خپل ورورا وخپلو همتناکوورېروسره په کورکي يوځای اوسي اودکهولت رنځوري شپې سباکوي. زماسره دليدني کتني پروخت ئې زماديوه چاپ سوي اثر (اديب شيخ) په باب ښه دخوندتبصرې وکړې خومائې په خبروکي د حافظې بې نظمي ځوواره ومونده چي پردغه سن وسال باندي يوه طبيعي پېښه ده.زمادغه کتاب دکندهارديوه حقدارعالم اروانښادشيخ عبدالغفورخروټي په باب ليکل سوی دئ. شيخ صاحب مرحوم د مولانا عبدالباري له صميمي ملګروځخه وو.

داپرېل له لسمي ځخه مي کورته دکندهاردفرهنګيانوجوپې جوپې راماتي سوې. سرئې زماپخواني اشنااودوست الحاج فضل محمد پنهان کښېښوو. پنهان صاحب په ځلوېښتمولمړيزوکلونوکي دکابل پوهنتون دادبياتوپوهنځي د پښتوځانګي له فارغانوځخه دئ اوښه ډېرکلونه ئې دکندهارد ښوونکودروزني په عالي موسسه کي داستاد په توګه وظيفه سرته رسولې ده. چاپ سوي آثارلري.پلارئې، مرحوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



لالی ماما نورزی دکندهارله محلي شاعرانوڅخه وو اوغښتلي ملي افکارئې درلودل. پنهان صاحب اوس پرکورناست دئ.

په دغه ورځ دمجلس په جريان کي زماګران اومستعد شاګردمطيع الله جان روهيال هم کورته راغی اود پښتواکبرنامې يوټوک ئې راووړ.



محمدمعصوم هوتک ـ حاجي فضل محمدپنهان
(کندهار ـ ۱۰ / اپریل / ۲۰۱۲ع)

پښتواکبرنامه دحميدکشميري دفارسي اکبرنامې منظومه ژباړه ده چي داروابښادملاجانان اخندکاکړپه قلم په نظم ليکله سوې اود پښتو ژبي دځوان محقق اوپُرکاره ليکوال ښاغلي ډاکترعبدالرؤف رفيقي په همت په دې شپوورځوکي چاپ سوې وه. دغه چاپي اکبرنامه ما په کندهارکي د خپل سفرپروخت يوځه وکتله، چاپي تېروتني ئې يوځه په سترګه راغلې اوکله چي کتاب زما له نوروزياتوکتابوسره دپوستې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاري کاناډاته راورسېد ، هغه وخت به که دخدای رضاوه، يوه ځانګړې ليکنه پروکړم. اوس دم درحاله داکبرنامې ناشرښاغلي ډاکټررفيقي ته ددغه مهم اثردچاپولوله بابته مبارکي وايم، توفيق دې رفيق اوبرى دې مل وي. دغه راز دپښتواکبرنامې دناظم اروابښاد ملا جانان اخندروح ته دوعاله خپلوفريضوڅخه بولم. دملاجانان اخند نور آثارهم دډاکټر صاحب رفيقي په همت خپاره سوي دي اودالړۍ ئې ښه په خوندروانه کړې ده. ښاغلي ډاکټررفيقي په دې شپوورځوکي دسراج الاخبار دلومړي کال ګڼې په ښکلې قطع اوصحافت داروابښادعلامه حبيبي له ليکنوسره يوځای چاپ کړي دي. پردې چاپ هم خپله تبصره بل وخت ته پرېږدم خوناشرته به ئې مبارکي اوس ووايم.

ډاکټرعبدالرؤف رفيقي ښوورځي وروسته ( داپرېل پر۱۹مه) ماښام تيلفون راوکړ. دی له کابله کندهارته رارسېدلی وو اوغوښتل ئې راسره وګوري. زه له بده مرغه يوې مېلمستياته روان وم اودی په داسپاچمن ته خپل کورته تلئ. دلنډوخبروپه ترڅ کي مي داکبرنامې مبارکي ورکړه اودبياليدوپه هيله مي ورسره خدای په اماني وکړه.

داپرېل پريوولسمه دکندهارد تاج محل هوټل په خوشبخت سالون کي يوه واده ته دعوت سوی وم. دکندهارښاردعمراني پراختياووپه لړکي د ودونوسالونونه هم په عصري اومجلله توګه ودان سوي دي. خوشبخت سالون په پخواني نوي ښارکي موقعيت لري. په دغه واده کي ځوان شاعرښاغلی بشارت هم ځان راته معرفي کړ. اشعارمې پخوا لوستي ول. په دې شپوورځوکي ئې شعري مجموعه هم چاپ سوې وه. ډېرمستعدځوان دئ چي زه ډېراميدونه ورته لرم. ګران بشارت زماد پخواني اشنا محمدموسى توخي زوی اودکندهاردمشهورفټبالر کاکو ابراهيم جان لمسی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په داسبائي چي دپنجشنبې ورځ وه،په همدې سالون كي داروانښاد شهيدعبدالاحدهيلمندي دكورنۍ ديوه غړي دواده مراسم نيول سوي ول چي زه هم ورته دعوت سوی وم. په مراسموكي مي ډېرشناخته خېل اوشاگردان وليدل. په هغو كي مى له حاجي رؤف جان هيلمندي، فريد ميوندي، رحيم الله هيلمندي ، ډاكټرعمري(دپنجوايي دگل اغا زوی)، دعالي دارالمعلمين له استاد عبدالله خان اونوروسره مي خواږه مجلسونه وكړل.

كندهاريان دجمعې ورځ له قديمه څخه په ارغنداوكي په مېلوكي تېروي. زه هم پسله ډېره وخته دارغنداوباباصاحب ته له ملگروسره مېلې ته ولاړم. ارغنداوتک شين وو. كه څه هم دتوتواوالوچه وو د رسېدوموسم وو، خودهواسوړوالي حاصلات يوڅه ځنډولي ول. ارغنداو ته له ښارڅخه په زرو خلک پرموټرسايكلانواوموټروكي هره جمعه ځي. دباباصاحب دزيارت نوي ودانۍاودتخت نورشاوخوا عمراني ځايونه اوباغچې دگل اغاشېرزي دلاس يادگارونه دي. په دې شپوكي دباباصاحب پربرابري دارغنداوپررودباندې دښاغلي ډاكټر توريالي ويساپه تلاښ يوپوخ پل هم ودان سوی دئ چي دارغنداو اوسېدونكواونورومېله والوته ئې دتفريح اوورځنيوچارو ډېر سهولتونه برابركړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





دارغنداوپه باغ کي زماپخواني ياران

دکندهارمستانه خلک اوځوانان امنيتي ملحوظاتوته په بې اعتنايۍ سره دجمعې دورځومېلې په هيڅ ډول نه قضا کوي.



دارغنداوباغ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دټرافيکي عراده جاتوډېرښت دښارحالت يوڅه بې نظمه کړی دئ، ټرافيکي پيښي ئې زياتي کړي دي. دټرافيکي ازدحام پرځنګ په ښارکي دبهرنيانودپوځي عرادوتګ راتګ هم خلکوته خوراډېر مشکلات پيښ کړي دي. کله چي دغه قواوي دښارپه کومه سيمه کي تېرېږي، دسيمي ټول ټيلفونونه سمدلاسه له کاره ولوېږي. تلاښی او پر سړکانوباندي امنيتي پوستي هم دښاردټرافيکي بې نظميوپه عواملوکي راځي.په ښارکي عملا جنګي حالت محسوس دئ خوخلکو دځولسيزوجګړه ييزوشرايطوله اسيته له دغه رازحالاتوسره دتطابق فوق العاده استعدادموندلی دئ اودجدي پيښوپه مقابل کي ډېربې پرواسوي دي. خوراسختي شپي وورځي په بشپړه حوصله مندي سره تېروي اوپه ورځني ژوندکي ئې دومره زيات توپيرنه پيښوي. افغانان په رشتياسره سرسختي خلک دي. کشکي ئې له دغي سرسختۍ څخه ناوړه استفادې نه کېدلای.

دښاروضعي ته په کتوسره څوک ويلای سي چي په عمومي توګه له فقر و بېوزلۍ اوبېکارۍ اوبې روزګارۍ،دچارواکو له نااهلۍ اوبې کفايتۍسره سره د ښارديوشمېرخلکوپه اقتصادي اومدني حالت په نسبي توګه ترپخوايوڅه مثبت بدلون راغلی دئ.ايکاش دجګړواوباروتونوم زموږله ګران هيواد څخه دابدله پاره ورک سوی وای.

دخلکوپه ژوندکي دمثبت اقتصادي بدلون پرځنګ په کلتوري برخه کي هم ژوربدلونونه ترسترګوکيږي. دې بدلونونوته ناظرين له دووزاويوڅخه ګوري. هغه کسان چي دکندهارپخوانی کلتوري حالت پرګران وو، دې بدلون ته دانحطاط نوم ورکوي. وايي چي موږدېرش ځلوېښت کاله پخوانښاري کلتوردرلود، دعصريت اومدنيت پرلور ګامونه که څه هم سوکه او ورو ورو اخيستل کېدل، خوزموږدټولني

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرمزاج برابريون وو ، دتعليم اوتحصيل مسئله ديوه منلي ضرورت په توګه زياتروخلکومنلې وه اودښاراوشاوخوا اولسواليوهلکان اونجوني له ځومحدودواستثناووپرته په منظم ډول ښوونځيواوبيا عالي تحصيلاتوته روان ول، دقومي تفوق روحيې وروستۍ سلګۍ وهلې اوپه ورځني ژوندکي ئې مطرح کېدل دوروسته پاته والي نخښه بلل کېدله اوخلکوځان ځني ژغوره،معنويت پرماديت باندي غښتلی وو،په ښارکي مدني اوښاري مناسبات دپرمختګ او ودي پرلور پراخېدل، دخلکوپه ژبه کي دښاري کلتورکلمات اوآداب دعامېدلو په حال کي ول، دخلکوجامې اوکالي دعصرله غوښتنوسره دمطابقت پر خوادسکښت په حال کي وې، اونور او نور. خواوس په ښارکي د کليوالي کلتوراو ژوندنښانې زياتي محسوسي دي اوپرټولنيزو مناسباتواوژبه باندي دځلورولسيزومهاجرت اغېزودښار دخلکوهغه کلتوري وضعه شاته ببولې ده،چي دمنورينوديوې پېړۍ مجادلې په نتيجه کي منځ ته راغلې وه.

خوبله ډله کسان بياچي هرڅه دمادي منافعوپه تول تلي،دې حالت ته ديوې جدي پېښي په سترګه نه ګوري اويوطبيعي بدلون ئې بولي.

ماچي دښارله خلکوسره کتل، دهغوپه ژوندکي مي دډيورنډدکربښي هاخواژبني اصطلاحات، لهجوي ځانګړتياوي، دود ودستور،کړه وړه،اونورکلتوري اثرات زيات ترسترګوکېدل اوداپديده راته په دغه سيمه کي داولس داوږده مهاجرت پيداوارايسېدله. ددې پرڅنګ بيا د ښارپه خلکوکي دګاونډيوهيوادودناوړو نيتونوپرضددنفرت روحيه ترپخوازياته محسوس کېدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه چي به کله کله دخپلو خاطرو يادونو پخوانيو کلونو ته ورسره يووړم، نودخپل زلميتوب دوخت کندهاربه مي دزړه له کومي ويادېدئ او په ارمان خومي ئې يوه ورځ ترسترګوبې اختياره اوښکي راتوی سوې.

داپرېل پرېنځلسمه انجنيرشېرشاه رشاد، چي په همدغه ورځ دجاپان له سفره راستون سوی وو، کورته راغئ.شېرشاه رشاددعلامه رشادبابا دريم دانشمندزوی دئ چي دعلامه رشاداکاډيمۍ پرانتظام سربېره په عينومېنه کي ديوه کلينيک دچلولواوپه کندهارپوهنتون کي دتدريس چاري هم پرمخ وړي. دعلامه رشادباباداآثاروپه خوندي کولو، چاپ ته دآماده کولواوخپرولواودهغوی دبې جوړي کتابتون په سمبالولواو عامه استفادې ته دتيارولوپه کارکي ستړيانه پېژني.

دهمدې ورځی په غرمه په عينومېنه کي زمادګران دوست حمدالله صحاف په کورکي مېلمه وم. مېلمستياته ښاغلی حبيب الله رفيع او ملګری ئې ښاغلی تدبيرهم راغلي ول. رفيع صاحب په پېښورکي د پښتودعالمي کنونشن غونډې ته بلل سوی وو. په غونډه کي ترګډون وروسته کوټټې ته اوبياله هغې لاري څخه کندهارته راغلی وو. دغه ورځ وشپه ئې له صحاف صاحب سره تېروله اوپه داسبائې کابل ته روان وو. دوه درې ساعته مودزړه خواله سره وکړه. مېلمستياته زماپخوانی اشناعبدالحميدپوهمل هم راغلی وو. دی په کراچي ښارکي اوسي. زه چي شل کاله پخواپه کراچي کي اوسېدلم، له ده سره مي ليدنه کتنه زياته وه. هغه وخت ئې دشعروېلوهڅه کوله اوليکلي شعرونه به ئې ماته د اصلاح له پاره راوړل. دشعرويلولاراوس څني پاته سوې وه خودنثرپه برخه کي ئې دغذايي رژيم په باب يوکتاب له انګرېزي ژبې څخه ژباړلی اوخپورکړی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګران روهیال په همدغه ورځ زمادیوه کتاب (پښتومتون سمېدل غواړي) دلومړي ټوک څوجلده راته راوړل. دغه اثرپه داپرون کي له د لاهورله مطبعې څخه رارسېدلی وو.

دمېلمستیاپه پای کي ښاغلي حمدالله صحاف دخپل خطي کلکسیون څخه دعبدالرحیم هوتک دېوان،دجانان فدوي دېوان اودآدم نومي متصوف شاعردېوان دکتلواوچاپ ته دآماده کولوله پاره راوسپارل. دجانان فدوي اوعبدالرحیم هوتک دديوانونوپاڼې مي سرسري واړولې راواړولې. دتصادف خبره ده چي په دواړودېوانوکي د(هیواد ) کلمې پراستعمال باندي پېښ سوم چي دوطن په معنائې راوړې وه.

جانان فدوي ویلي دي:

نه مي داغ که خپل تندی په اوردمیني
نه ورک شوی پرهِوادیم دربَدَر
( دخطي نسخې ۸۸مخ)

عبدالرحیم هوتک ویلي دي:

ځان خالص دیارپرذکرکړه رحیمه
څه ارمان دٍ برپریارانودهوادکړي
(خطي نسخه-۳۰ مخ، د "ړ" ردیف، د ۱۲۷۷ هق = ۱۲۳۹هش کال استنساخ سوې نسخه)

یابل ځای:

زه رحیم په زړه خراب یم،دامِلاددرتراب یم
خوارغریب پربخارایم،دهِوادیارمي یادېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددغه خطي دېوان دپای پرمخ باندي دالاندي لنډۍ کښل سوې ده:

ولي به نه ژاړم عالمه
ځمادلالي په ميان کښي راغله هِوادونه

دپښتونخواځيني محققين له (هيواد) کلمي څخه د(وطن) معنا اخيستل نوي ايجادسوې پديده ګڼي اودپټې خزانې دجعليت ثابتولو په ناکامه هڅه کي ئې ددليل په توګه راوړي. عبدالرحيم هوتک او جانان فدوي دپټې خزانې دليکوال دعصروزماني خلک دي اود عبدالرحيم هوتک د دېوان دغه خطی نسخه دپټې خزانې دنشر و اشاعت (۱۳۲۳ش) تر وخت څلوراتيا(۸۴)کاله پخوا استنساخ سوې ده اوپه هغې کي د(هِواد) لغت د (وطن) په معناکارسوی دئ. له موضوع سره دارتباط په خاطر بايد ووايم چي (هيواد) کلمه اوس دچاخبره په معياري ليکدود؟کي په اوږده ياء (مجهوله ياء) سره د(هېواد) په بڼه ليکله کېږي. دغه رازليکنه ئې زماپه فکرنوې پديده اوناوړه بدعت دئ چي مخنيوی ئې په کاردئ.

دښادۍ ليکدوددي سي، په سفرنامه (يونليک) کي لاهم نه يم ځني خلاص. دخوشحال خان خبره " که هرڅوئې سازومه نه سازېږي ". بيرته به دخپل سفرنکل ته راوګرزم.

دعبدالرحيم هوتک دېوان ددغي خطي نسخې فوټوکاپي اودآدم دېوان اصل نسخه مي اوس ( د۲۰۱۲ع کال دمی دوه ويشتمه)کاناډاته راسره راوړې ده او کار مي پرشروع کړی دئ.

داپرېل له شپاړسمي څخه کورته دکندهارپوهنتون دمحصلينوراتګ دخپلومونوګرافوپه ليکلوکي دلازمولارښوونوپه خاطرپيل سو. ددوی مينه اوعلاقمندي اوپرڅنګ ئې دمدارکواولارښوونونېستي دې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



هڅولم چي په شپوشپودوغوزلميومغزونوپه لاربنوونه کي خوب پر ځان حرام کړم. په دې وطن کي دځوانواستعدادوکمی نسته، خو افسوس چي جګړې اونوري ناخوالي ئې مخي ته خنډدي.

په دغه ورځ په ښارکي امنيتي تدابيرزيات نيول سوي ول. ويل کېدل چي په لوګراو ځينونوروولايتوکي وضعه ناآرامه وه. دښارنني حالات دهغوولايتو د ناآراميوله امله احتياطي تدبيرونه بلل کېدل. خلکو دپخواپه شان خپلو ورځنيوکاروته دوام ورکاوه خودښارګنه ګونه لږڅه کمه سوې وه.

داپرېل پراووه لسمه غرمه زماداشنااودمرحوم شيخ عبدالغفورخروټي دکشرزوی حاجي ظاهرجان کره مېلمه وم. دمرحوم شيخ صاحب پر

مشر،دانشمنداوشاعرزوی ښاغلي احمدصميم سربېره دکندهارنور منوراوتحصيل يافته دوستان اومتعلقين هم راغلي ول. دتېروختونو اوخاطروپه يادموډېري کيسي وکړلې. دخبروپه جريان کي دټولو حاضرينوشکايت له هغه اختناق څخه وو، چي دکندهارپه محيط کي د منورينواوتحصيل يافته ووپه مقابل کي موجودوو. دتعليم اوتربيې په برخه کي ئې د کندهاري زلميودحق تلف کېدلوپه باب خواشيني ښووله . په موضوع کي له شاملودواړومخالفواوموافقوڅخه ګيله من ول.

په دغه ورځ مازيګردکندهارځوان اومستعدفرهنګي اودولتي شخصيت ښاغلی پتيال کورته راغی دخپل ډېراخلاص اوصميميت ښوولوپه ترڅ کي ئې کندهارته زمادسفرله بابته خوشالي وښووله. دمجلس په منځ کي دروهي ادبي بهېرښه ډېری غړي په ګډه سره کورته راغلل. دماښام لمونځ مودبهېردیوه ځوان غړي په امامت اداکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



روهي ادبي بهېرپه کندهارکي دفرهنګي کسانودغونډېدولوی مرکز دئ. وايي چي دامرکزپه لومړي سرکي دعلامه رشادپه نامه نومول سوی وو، خووروسته ئې دځينومصلحتوپه خاطرنوم په روهي ادبي بهېرباندي واووښت. ددغه نوي نامه نسبت ئې دافغانستان دلوی او متفکرعالم اروابناد محمدصديق روهي نامه ته سوی دئ چي ددغه دروند پښتون نوم په حقه سره ددغسي يوه انتساب څه ، چي تردې لاهم دزيات درناوي مستحق دئ. اروابنادروهي صاحب دهيوادله سترو علمي اوادبي افتخاراتوڅخه ګڼل کېږي. دبهېرله غړوسره مي ددوی په اووه نيزوغونډوکي دګډون وعده وکړه. داغونډې دهري پنجشنبې په ورځ ماپښين دبهېرپه مرکزکي کېږي.

داپرېل پراتلسمه دماپښين پردرونيموبجوداستادډاکټرعبدالرازق پالوال کورته ترتيلفوني خبرشرط وروسته ورغلم. داستادپالوال صاحب کوردکندهاربنارد کابل دروازې په شمالي کلافصيل کي د پخواني پاتاوپرغاړه واقع دئ. دغه کورئې پلرنۍ مېنه ده. داکورما پنځوس کاله پخواليدلی وو اواوس مي له ځينوشکلي بدلونوپرته په هماغه پخوانۍ بڼه وموند. دپاتاوپُل دښاروالۍ له خواپه پاخه شکل جوړ سوی،خوله بده مرغه دکوڅې دکثافاتواچولوپه مرکزباندي بدل سوی وو. زمادورتګ پر وخت دکثافاتوله کوټي څخه دودونه پورته کېدل اوداسي ښکارېدله چي کوم چاوروراچولی وو. په دغه شان کور کي ديوه سترافغاني محقق ، توکمپوه،ژبپوه اوپه عالي تحصيلاتو سمبال دکتور استوګنه زموږدجهالت ځبلي ټولني اودهغې دنااهلو چارواکود علم دښمنه خصلت ښه څرګنده نمونه وه.پرتندي مي دحقارت خولې راماتي سوې اودخپلي ټولني پرخواره بوښکيتوب مي په زړه کي په کوکاروسره وژړل. په يويشتم قرن کي ددانشمندانودغه راز حالت علم اوپوهي ته سپکاوی راته وايسېدئ ، انسانيت ته په سپکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتل راته ښکاره سوه اوزمونږ له ادعالرونکو په اصطلاح فرهنګي غټانو څخه مي ډېره ګیله وسوه. په کارخوداوه چي دغه ستراوفاضل دانشمند ته دنړۍ دډالرونوپه دغوسیلابوکي چي پروطن رابهېږي اود څو حریصو کسانوجېبونه په ډکېږي،یومطمئن اودده له شان سره سم استوګنځی جوړسوی وای، ده ته دتحقیق اوڅېړني وسایل حتی المقدوربرابرسوي وای،اوده خپل قیمتي وخت دکتوي په پخولواوله بازارڅخه دپیازوپتاتوپه راوړلونه مصرفولای. افسوس پرداسي تولنه چي هغسي دانشمند ئې، چي دپښتو- جاپاني قاموس جاپانی لیکوال (نواتاتېڅو) ئې په شاګردي باندي ویاړي، خودده ورځنی ژوندپه دغسي خواشینوونکي حالت کي وي. دامنم چي دکتورپالوال به پخپل تول عمرکي دخپلي مستغني ککرۍ په حکم چاته دطمع سرټیټ نه کړي، خومونږته هم یوڅه انصاف په کاردئ. ماپخپل تول عمرکي دعلم او دانش له څښتنانوسره دومره جفانه لیدلي وه اونه دي بیاخدای راویني.

استادپالوال صاحب په دغه ورځ په کورکي یوازي وو.دخونود مخ په برنډه کي ئې کمبله اواره کړې اودمچانوله تطاول څخه ئې دنجات په خاطرځانته دزرغونې جالۍ یوه قفسچه غوندي پناهګاه جوړه کړې وه. په مینه اوصمیمیت سره ئې کورته وروبللم ، مېوه ئې راته کښېښوله اوپه دغه اسکېرلي مېنه کي ئې دعلم اوپوهي له درانه برکت اوفیض څخه ښه ډېرمستفیدسوم.زمادنوي چاپ سوي کتاب (پښتومتون سمېدل غواړي) دنشرمبارکي ئې راته وویله. دغه کتاب په همدغه ورځ روهیال صاحب ورته رارسولی وو.دپښتوژبي پرخواشینوونکي حالت او پر ورځنیوناخوالومودزړه خروښ سره وکیښ. دقوم پرجهالت اود قبیلوي ذهنیت پرخپرښت موخواشیني وښووله. زمادورځني پروګرام د وخت محدودوالی مودمجلس ددوام خنډسو ، که نه شپي شپي موباید

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زړه غوټي سره سپړلي واى. دخبرو په جريان کي راته ځرګنده سوه چي دکتورپالوال صاحب اجتماعي ناخوالوډېرسخت ځبلى دئ. که زه ددوى په موقعيت کي واى، پرغرواو رودو به مى مخ نيولى واى.په ډک زړه مي رخصت څني واخيست اوخپل استوګنځي ته رهي سوم. له کورڅخه له راوتلوسره سم هغي دروازې ته ودرېدم، چي يووخت پکښې ارواښادمولوي صالح محمدهوتک اوسېدئ. له دې کورسره زمادوړکتوب اوزلميتوب ټول يادونه تړلي ول. په دغه کورکي يووخت دافغانستان په سطحه علمي هستىِ راغونډېدلې. ارواښادوزير محمد ګل خان مومنددغه کورته په واروواروراغلى وو. ارواښادمحمدامين خوګيانيِ ته په دغه کورکي دعزت مېلمستياوي کېدلې،دکابل او کندهاراعزّه وو په دغه کورکي خپله ورکه موندله اوپه راتګ سره به ئې خوشالي ځرګندوله. خونن پکښې دکوڅې ديوه پخواني ګاودار د غواوو ګورم پنډ وو !! پريوه قوم چي دغفلت دونه درانه پېټول پراته وي، پاى به ئې هرومروهمداسي وي.حميدوايي:

ډېرزمري کړه زمانې دتماشو
ننوزي يې په غارګيدړپيشو

تردې کورچي مخ پرشمال راتېرسوم، دشهيدمولوي عبدالواسع اخند زاده کورته ودرېدم . نااشناکوچنيانوئې دکورمخي ته لوبي کولې. نه مي دارواښادمولاناعبدالخالق واسعي نوراني څېره پکښې وليدله نه مي دخپلي مورنىِ انا(نيا ) اودهغې ددانشمندوخويندوټولىِ تر سترګو سوه چي داسماني فرشتوپه څېربه ئې سپين سپين پوړني پر سرو اوقرآن شريفونه په غېږکي ول اومولوي خوګيانيِ صاحب به د "جنتيانو " په لقب نازولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تردې درګاه هم تېرسوم،دشهيدبابازيارت ته مې لاس پورته کړ، داحمد شاهي عصرداشرف الوزراءوزير شاولي خان باميزي دکوردروازې ته يوه شېبه تکيه سوم، نورمي له شنوخته ډک زړه مجال رانه کړ، چې ورته تم سم، په کوڅه کې يوه خالي ريکشا راباندې پېښه سوه اودخپل استوګنځي په نيت ورختلم.

په دغه شپه چې خپلوچورتواخيستی وم،دشپې داتوبجوپه شاوخوا کې يوې درنې چاودنې دچورتولړۍ راوشلوله اوکوټې راولړزاوه. د کورپه کوچنيانو چيغې ګډې سوې اوپه ځغاسته مودکورزېرخانوته پناه يووړه. له چاودنې سره متصل دسپکووسلوڅوټکان هم وسول. په سيمه کې مرګونې خاموشي خپره سوه. څه شېبه وروسته مې دامنيتي موټرانو او اوروژلوموټرآوازترغوږسو. له زېرخانې راووتلم، د امريکايانو موټر هم سيمې ته راورسېدل، الوتکې هم په فضاکې را ښکاره سوې. ترڅه آن وروسته يوونيم له کوروځخه راووتل اومعلومه سوه چې زموږ دکورپر مخامخ دکثافت دانيوپه منځ کې دووځای پرځای سوو بمونوانفجار کړی وو، چې ظاهراخوئې انساني تلفات نه درلودل. دشپې خوب را څخه وتښتېدخودکورنورغړي لکه هيڅ چې پېښ سوي نه وي، په خرهاري بيده ول. په داسبائې څرګنده سوه، چې دبرايې شپې چاودنې د سرتلفات نه درلودل خوله کثافت دانۍ څخه غلبېل جوړسوی وو. دکندهارمحلي مېډياهم په دې باب څه ونه ويل.

داپربل پرنونسمه غذايي تسمم راته پېښ سو. داهغه مصيبت دئ چې ماواروله خارجه ورغلي کسان زياتره ورسره مخامخ کېږي. دوستانودواوي کورته په منډه راورسولې. ګران روهيال هم دباران په شرپ کې دشېرشاه رشادپه لاربښوونه دواوي راته راوړلې. باران لوندخيشت کړی وو، خوله ده سره زمادروغتياغم وو، په ځان کې ئې ری نه واهه.دشپې له خوادښاغلي ويسامېلمه وم. خومادخدای په

(c) ketabton.com: The Digital Library



نعمتوکي له خالي مستوپرته په بل شي ځکه لاهم ونه کړه. په دغه شپه مي له ډاکټرجباراوډاکټرعبدالقیوم پخلا سره هم ترډېروکلونوورو سته وکتل. دوی هم په خورک کي داحتیاط توصیه راته وکړه. دشپې تر ناوخته موخوږباندړاروکړې.

په داسبامي ،چي دجمعې ورځ وه،هم سرراته ګنګس وو. اوبه مي ډېري ضایع کړې وې، دوستانومي پوښتني ته ټیلفونونه راکول. دجمعې ورځ مي په کورکي تېره کړه. دارغنداومېله راځخه پاته سوه. په مازیګرکي حاجي ظاهرجان اوزماد پوهنتون دوختواشناحاجي عبدالله اوځونور زلمیان کورته راغلل. دحاجي ظاهرجان زوی دکابل پوهنتون دادبیاتو پوهنځي دالماني څانګي محصل وو. دژبي اودپښتنوداصل ونسب په باب ئې پوښتني راوړې وې . مایوځه تفصیلي جوابونه ورکړل اود پښتني قبیلې اوروایتي ریښې کتاب دوهم چاپ مي هم ورکړ. دشپې له خواحمدالله صحاف او ورورئې سمیع الله کورته راغلل. صحاف صاحب دخپل خطي کلکسیون جوړسوی کتلاک دمشورې له پاره ورسره راوړی وو. ښه پوره خواري ئې په کښلې وه. دخطي نسخو شمېرئې ۱۹۸ نسخوته رسېدئ چي په کمپیوټرکي ئې په ښه سلیقه تنظیم کړي وې. مادد غه کتلاک دچاپولوسپارښتنه ورته وکړه. د حمدالله صحاف خطي کلکسیون په سیمه کي له غنیمت کلکسیونو ځخه دئ. دی دنورو کسانوپرخلاف دخپل شخصي کلکسیون آثارد محققینوپه واک کي ورکوي. داکارئې دخوراډېري ستاینې وړدئ.

زه چي دداځوورځوپه جریان کي دکندهارله بېلابېلوخلکواودمختلفو اقشاروسره مخامخ سوی یم، ټولوپه یوه خوله دکندهاردپخواني ښاروال شهیدغلام حیدرحمیدي دکارناموتوصیف راته کاوه. دده د کاراوفعالیت، دده دپاکنفسۍ، دده دوطندوستۍ اوپه کارکي د جدیت بیانونوتمام نه درلود. شهیدغلام حیدرحمیدي دارغنداو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوهک کلي دسردارعبدالحمیدخان دکورنۍ غړی ووچي د۲۰۱۱ ع کال دجولای پر۲۷ مه ئې دخپل کارپه دفترکي دیوه ځانمرګي بریدله امله خپل ژوندله لاسه ورکړ. دده دوژلوپه ورځ مادغه یاداښت دځان له پاره اخیستی وو:

" نن (۲۷جولای ۲۰۱۱ع) دکندهارښاروال پخپل دفترکي دځانمرګي بریدله امله ووژل سو. په افغانستان، خصوصاکندهارکي له څه مودې راهیسي ددغه رازوژنولړۍ روانه ده. راتلونکې ډېره تیاره معلومېږي.
غلام حیدر حمیدي د غلام سرور خان حمیدي زوی او ۶۵ کاله پخوا د کندهار ولایت د ارغنداب ولسوالۍ د کوهک په کلي کي زېږېدلی وو. لومړنۍ زده کړې په خپل پلرني کلي کوهک کي کړې او ۱۲ ټولګی یې د کندهار په میرویس لېسه کي سرته رسولي وې.ترهغه وروسته ئې د کابل پوهنتون دتعلیم وتربیې پوهنځۍ څخه دفارغېدلوسند اخیستی وو.د کندهار ښاروال غلام حیدر حمیدي دوې لوڼې او یو زوی پاته سوي دي. "

ښاروال حمیدي دعلامه رشاددمقبرې په محوطه کي ښخ دئ. پرقبرئې شنخته ولاړه ده.پاک خدای دې وبخښي.

داپرېل پرشپاړسمه دمرحوم عبدالباري خان اشنا لمسي دشهیدانجنیر عبدالطیف اشنازوی محمدآصف اشناکورته د خپل مونوګراف په باب ،چي موضوع ئې دخپل نیکه عبدالباري خان اشنادعلمي وادبي کار څېړنه وه،دمشوروغوښتلوپه نیت راغلی وو، ماورته ویلي ول چي اشنامرحوم دعکسویوقدیم البوم پخپل لاس برابرکړی وو، که ددغه البوم له عکسوڅخه دخپل مونوګراف له پاره ځیني عکسونه انتخاب کړې، ښه به وي. ده راسره ښه کړه . دمونوګراف له پاره مي ئې خپله یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاطره هم وروسپارله چي په مونوګراف کي ئې راوړي . خاطره مي داسي ورته ليکلې وه:

(دادشپږپنځوسوکالوزړه خاطره ده،هغه وخت زه لس کلن لانه وم،چي پلارمي دملاګلدادکوڅي پرمخامخ دعطارۍ ديوه دوکان څښتن پرملامحمدنوراخندصاحب باندي شاګردکړم. ملاصاحب زموږ د کورنۍ له نورومشرانوسره هم محشوروواوپلارمي په دغه ورځ ورته وويل : " ددغه وراره دي ديني روزنه وښوونه،ماستاسي پرغاړه واچوله". ملاصاحب په دوکان کي خپل څنګ ته کښېنولم اوپه ډېره مهرباني ئې نوم راځخه وپوښت اوتريوځونوروپوښتنووروسته ئې زماپلارته وويل چي: "شروط الصلوة ورهديه که،سرله سبادي راځي".

دتدريس دالړۍ څوکاله پسې اوږده سوه.

ملاصاحب هډور،غنمرنګه، لږڅه چاغ سړی وو،په لوی بالاکرزکي اوسېدئ. دغه کلی دکندهارښارختيځ ته دکوچني بالاکرز او بختيارو تر منځ پروت دئ، دی به سهارله کوره ترلمانځه وروسته دوکان ته پلی راتلئ. دوکان ته تررسېدلودمخه به ئې دکابل بازارسماوارچي ته دچايوفرمايش ورکړاوله نانوای څخه به ئې توده ډوډۍ راواخيستله. په دوکان کي به ئې ترسباناري دمخه ددلائل الخيرات شريف وظيفه وکړه اووروسته به نوددوکان په تنظيم بوخت سو.

پردوکان به تل يويادوه تنه سپين ږيري ناست ول اوزياتره به ځوان طالبان دپوښتنودحل له پاره ورته راتلل. ملاصاحب سربېره پردې چي دديني علوموااستادوو،له عصري تعليماتوسره ئې هم مينه وه، خپل زامن ئې ټول په ښوونځي کي شامل کړي ول اويوزوی عبدالباري خان اشناخوئې په کابل کي دادبياتوپه څانګه کي د تحصيلاتو تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



بشپړېدو وروسته دکندهارولایت دپوهني مدیرهم مقرسو،چي مائې په لېسه کي دشاګردۍ ویاړلاره.

ملاصاحب ته هره ورځ دطلوع افغان اخباردوکان ته راوړل کېدئ. ټول ئې مطالعه کاوه اوپه دوکان کي له ناستوکسانوسره به ئې دهغه پرمطالبوباندي تبصره کوله.

زه چي دمرحوم ملامحمدنوراخندصاحب مهربانه رویه،حسن خُلق اوپرشاګردانوباندي تراندازې زیاته پېرزوینه رایادوم د " هرهډدې وجنت ته سې" تردوعابله لویه مجراینه اودحق ادابنه نسم ورته موندلای.

دتصادفاتوخبره ده ،چي سږکال (۱۳۹۱ش) په حمل میاشت کي چي مي خپل پلرني ټاټوبي کندهارته دراتګ سعادت په برخه سو، دمرحوم ملاصاحب کړوسی،دمرحوم عبدالباري خان اشنالمسی او د شهید عبداللطیف اشنازوی،ګران آصف اشنامي لیدوته راغئ اودخبروپه ترڅ کي ئې پرخپل نیکه باندي دلیکني (مونوګراف) یادونه وکړه. خدای (ج) دې پرهمت برکت کښېږدي. داخوکرښې مي د خپلو مرحومینو استادانوپه بادورته وکښلې،چي دلیکني په یوه برخه کي ئې ورسره یوځای کړي.
محمدمعصوم هوتک
کندهار۔۲/۲/۱۳۹۱ش "

ګران آصف اشناداپربل پر یوویشتمه ئې دخپل نیکه په لاس ترتیب سوی دعکسوالبوم کورته راووړ. ددغه البوم ټول عکسونه خورازیات تاریخي ارزښت لري اوماپکښې دخپلي دوولس کلنۍ عکس هم پیداکړ. کېسه داسي وه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۱۳۳۸ ش کال په افغانستان کي دصدراعظم سردارمحمدداودخان په نوښت دلومړي ځل له پاره دمعلم ورځ په ټول افغانستان کي په شاندارومراسموسره ونمانځل سوه. په کندهارکي ددغي ورځي په وياړداحمدشاه باباپه لېسه کي درانه مراسم جوړسوي ول چي دوخت نائب الحکومه ، محمدصديق خان وزيري، دقول اردوقوماندان جنرال خان محمدخان اوکندهارښاروال محمداکبرخان هم برخه پکښې درلوده. دمراسموپه لړکي دده خوجې ښوونځي زده کوونکويوه ترانه هم وويله چي دترانې په دغه ټيم کي زه هم شامل وم. ترانه دده خوجې ښوونځي يوه ښوونکي گل محمدخان،چي دکندهاردکوچني بالاکرز اوسېدونکی وو، جوړه کړې وه اوموږدده له لارښووني سم له موزيک سره يوځای په گډه وويله. ددې ترانې څوبنده مي تراوسه لاهم په حافظه کي ستته. په دې ډول:

رحيم رحمانه-غواړوله تانه-لوړترهرچانه-افغانستان
ياذوالجلاله-مې کړې زواله-گرزوسرشاله-موږپه هرآن
ورځ دمعلم ده،معلم استاد
لوی خدمتگاره،دخپل هيواد
يوښه پالنه-بل ئې روزنه-کړي دوطنه-دی په ښه شان

ددغي ترانې دويونکوعکس داروانښادعبدالباري خان اشنا، چي په دغه وخت کي دکندهاردمعارف مديروو، په ترتيب سوي البم کي له توضيح اونېټې سره يوځای موجودوو. مائې کاپي دآصف جان اشناپه اجازه له ځان سره واخيستله.

(c) ketabton.com: The Digital Library





دتراني ويونکوددوهم کتاردښی خوااول تن ،چي د سره رنګ په نخښه نښاني سوی دئ،زه (معصوم هوتک ) يم چي دغه وخت دده خوجې د لومړني ښوونځي په پنځم ټولګي کي وم.دتراني دډلي سرټيم چي مايکروفون ته ولاړدئ، فتح محمد نومېږي . دی له ښوونځي څخه ترفارغېدلووروسته څه موده معلم وو. زه چي په کراچي کي اوسېدلم (۱۹۹۰ع) ده هم په پاکستان کي دمهاجرت شپې تېرولې او په سهراب ګوټهـ کې دوکان کاوه. دده ښي لاس ته ولاړتن ګل محمدخان ښوونکی دئ. دتراني شعر ده ويلی اود کمپوزکارئې هم سرته رسولی وو.دګروپ شاته سرمعلم محمد هاشم خان ولاړدئ.

دده خوجې لومړنی ښوونځی دميرويس نيکه له لېسې سره په څنګ کي داوسني عالي دارالمعلمين دودانۍ پرځای واقع وو. دلومړني ښوونځي اولېسې وداني دمجاهدينودواک موندلوپه لومړي کال له ببخه ورانه سوه. اوس ئې پرځای دښوونکودروزني دعالي موسسې په نامه نوې څومنزله ودانۍ جوړه سوې ده. دده خوجې لومړنی ښوونځی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته د تجربوي ښوونځي په نامه واووښت چي اوس هم په دغه نامه فعال ښوونځی دئ.

د اپرېل پر۲۲ مه (۲۰۱۲ع) مي د علامه رشاد کتابتون وکوت. د اکتابتون دعلامه رشادباباپه کورکي،چي دکندهارښارپه اوله ناحيه کي دسردارمددخان چوک ته څرمه واقع دئ، دعلامه باباتروفات وروسته دده دفرهنگيال زوی استادشيرشاه رشاد اودده دکورنۍ دنوروغړوپه مرسته تنظيم اوترتيب سوی دئ. دترتيبولوپه کارکې ځوان اوفعال فرهنگي شخصيت ښاغلي خليل سروري هم ډېره خواري کښلې ده. په دغه کتابتون کي هغه ټول ناياب کتابونه اوډل سوي اوعامه استفادې ته اېښوول سوي دي، چي دعلامه رشادپخپل لاس د شپېتو اوياوو کالو په اوږدوکي برابرسوي دي. ددغه کتابتون زېرمه دټول هيوادپه سطحه کي بې جوړې ده. دعلامه باباددغه کوريوه برخه د رشاد اکاډيمۍ دفترته بېله سوې ده اوپه بله برخه کي دعلامه مرحوم کورنۍ اوسي.

گران خليل جان دکتابتون دکتابوتهيه سوی فهرست راته راکړ اوهم ئې په کندهارکي زمادا ستوگني په ټوله موده زمادارتياوړ کتابونه کورته رارسول چي مابه تراستفادې وروسته بيرته ورسپارل اوده به نورنوي کتابونه راته راوړل. په دغه موده کي مي دخپل اثر(پښتومتون سمېدل غوارېي) ددوهم ټوک له پاره خوراډېرياداښتونه واخيستل. ددغه اثر د دوهم ټوک له پاره زياتره متون ماته په کاناډاکي ميسرنه ول. ما ته د خپل ټول دغه سفرپه جريان کي تردغوياداښتوا خيستلوبله غټه بريا په لاس رانغلل. که دژوندپرمېنه وم، ددغو يادښتودتنظيم کاربه ډېرژر پيل کړم( انشاءالله).خوترهغه دمخه مي د(ادم) شاعرددېوان ترتيب وتنظيم اودخپل دغه حاضريونليک ليکنه په اولويتونوکي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کشکي زه په کندهارکي اوسېدلای، چي له دغه کتابتون څخه به مي د علامه بابادناچاپوآثاروپه تنظيم وترتيب کي ډېره استفاده کړې وای او دکارهغه ستونزي به مي ډېري کمي سوي وای چي په کاناډاکي ددغو آثارودکمپوزپروخت ورسره مخامخ يم. اوس زماددغو ستونزو پېټی دعلامه رشاداکاډيمۍ دمسئولينوپه مرسته زماله اوږوڅخه کښته کېږي. پرهمت دې برکتونه وه.

په دغه ورځ چي مادغه کتابتون کوت، دعلامه باباکشرزوی احمدشاه رشادهم له خارج څخه کندهارته راغلی وو، چي تررارسېدو څوساعته وروسته مي په همدغه کتابتون کي ورسره وکتل.

داسباورځ (داپرېل ۲۳مه) مي ټوله په کورکي تېره کړه اوله کتابتون څخه دراوړوآثاروپه کتنه بوخت وم . په دغه ورځ مي دسکندرخان ختټک ددېوان دمطالعي پروخت دخپل نوي چاپ سوي کتاب (پښتو متون سمېدل غواړي) په لومړي ټوک کي دسکندر خان خټک پر شمايلنامه اوپندنامه باندي دبحث په ترڅ کي خپل دتامل وړهغه برداشت ته متوجه سوم چي دسکندرخان خټک دزامنود نومونو په برخه کي مي دهغه وخت دموجودومآخذوله مخي کړی وو. ماد سکندرخان په زامنوکي دمنورپه باب شک څرګندکړی وو. ددغه شک دازالې له اسيته مي ديوې کوچنوټې ليکني خاکه سره برابره کړه او ګران روهيال ته مي ورکړه چي ترکمپوز وروسته ئې په تاندوېبپاڼه کي خپره کړې . ده ته دي خدای خيرورکړي ليکنه ئې زمادخاکې له مخي تهيه اوترکمپوزاوټايپ وروسته ئې زماله غوښتني سره سمه تاند وېبپاڼي ته ولېږله چي تاندوالوهم بې له ځنډه خپره کړه. ددغي ليکني ترخپرېدووروسته مي اوږې ډېري سپکي سوې. زه هروخت هڅه کوم چي پخپلو ليکنوکي خپل ناسم حکمونه تربل هرچادمخه زه پخپله سم کړم. له دې کاره مي مراددادئ چي لوستونکوته وښيم چي زه خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليكنوته هم هروخت په انتقادي نظرگورم اوچي وس مي وسي سم د لاسه كره كتنه باندي كوم. غلطي اوناسم حكمونه بالذات گناه نه گڼم خوپرناسمواودتامل وړاحكامو باندي بې ځايه ټينگارته دسرټمبگۍ په سترگه گورم چي ماا ونوروټولوته دي خدای له دغه مصيبت څخه نجات راكړي (آمين).

په دغه ورځ ناوخته دكندهارځوان فرهنگپال گران عبدالستارجان مهتابي كورته زمادليدوله پاره راغی. ډېراخلاصمن زلمی دئ. له بدو سترگودي خدای وساتي . دده دكورنۍمشران زموږپه پلرنی مېنه (دملا گلدادپه كوڅه) كي اوسېدل اودی هم تراوسه پوري هوري اوسي. زماسره په كاناډاكي هم هروخت تيلفوني اړيكي ساتي اودوطن په حالاتو،په تېره بيادكندهارښاردمخورو، عالمانواومشاهيروپه مړي و ژوندي مي خبروي. بركتونه دي تل په برخه وي. مادخپلي پردېسۍ په ټوله اوږده موده كي دكندهارښارله زياترو زلميوفرهنگيانوسره اړيكي ساتلي دي. دغواړيكوساتلوته تردوی زه پخپله ډېره اړتيالرم. زه په همدغو اړيكوباندي ژوندی پايم.دغه رازمثمري اړيكي دي پاک خدای نه راباندي دروي. ماډېره گټه پكښي كړې ده.

داپرېل پر۲۴مه حميدجان هيلمندی كورته راغی. دوه ساعته مود كندهارپرحالاتواوپه عينومېنه اودده پخپل زراعتي فارم اوكلاكي دده پرفعاليتوباندي تودمجلس وكړ. حميدجان هيلمندی ډېرمتواضع اوپروطن مين سړی دئ اودكندهارپه باب خوراكټورنظريات اوپلانونه لري. دده كمال دادئ چي يوازي پرخبروباندي اكتفاء نه كوي بلكي په عملي توگه هم دښارپه ابادۍ كي خولې تويوي. دحميدجان پلار شهيد عبدالاحدهيلمندی دثورداولي پاچاگښتۍ په لومړنيو قربانيانوكي وو. ډېرمنوراووطندوست سړی وو. زموږدكورنۍ له مشرانوسره ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېژندل.ددوی پراخه کورنۍ په کندهارکي یوه مخوره، علمدوسته او منوره کورنۍ ده. ددې کورنۍ له مشرانوسره هم ما پېژندل اوله کشرانو سره ئې هم. په دې باب مي یوه کوچنوټې رساله کښلي ده، چي امیددئ ژرچاپ سي.

داپرېل پر۲۵مه سهارپه خړه په دامان اولسوالۍ کي دنجوی کلي ته د خپل مشراکاله زوی حاجي نجیب الله سره ولاړم. دنجوی کلی دکندهار ښارپه ختیځ کي دکابل ـ کندهاردلویې لاري په جنوب کي داعظم کلا پربرابري پروت دئ. مځکي ئې دترنک په اوبوخړوبېږي. اوسېدونکي ئې اکثریت پوپلزي دي.دنوروقومونو خال خال کورونه هم پکښې سته. دنجوی کلی پخواله ښاره ډېره لیري وتلي سیمه بلل کېدله. خواوس د ښارسیمه دونه ورنږدې سوې ده چي که حالات په همدې ډول روان وي، کال نه بل کال به دنووپخواوعصري دانیولیکه ور ورسېږي.په دغه کلي کي له پېړیوراهیسي زموږ پلرنی جایدادپاته دئ چي سرپرستي ئې ددغه کلي دیوي اوسېدونکي کورنۍ پرغاړه ده. په تېروشپږو کلونو کي چي زه وطن ته نه وم تللی، په دغه کلي کي ځیني مشران وفات سوي ول اودغه کلي ته له نني ورتګ څخه مي مراد د دغومتوفی کسانوکورنیوته دفاتحې ورکول وو. متوفی کسانوته مي د مغفرت دوعاوي وکړې اودکلي پرنورو شناخته خېلومي پوښتنه و ګروېږنه وکړه.د سهارنهه نیموبجوته بیرته ښارته راغلم.

داپرېل پر۲۲مه دماله جات دریګي کلاچې په سرکي دمرحوم غلام محمدخان کمیسارپه کورنۍ کي یوه واده ته دغرمې له خوادعوت سوی وم. له ښاغلي حیات الله رفیقي ، انجنیرشیرشاه رشاداوګران روهیال سره یوځای ورغلم. دماله جات په زړه کي یوخوراشاعرانه کور وو. دګل ګلابواوچمبه ګلوباغچې اودنوروګلانوپه سووګلدانۍ پکښې پرتې وې. واده ته درابلل سوو مېلمنوشمېرهم سوونوته

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسېدئ. دښاردخلګو دودونومصارف اوس تراندازې زيات لوړسوي دي. ماپخواداسې فکر کاوه چې ددغولګښتونواندازه ترهيواددباندي په مهاجرو کورنيو کې داسراف درجې ته رسېدلې ده. خواوس چې مې په وطن کې دننه ودونه او مېلمستياوې وليدلې، ترمهاجروئې اړولې وه. په ښاديو کې مصارف اودډوډۍ ورکړه خوزموږيوپخوانی دود دئ خوچې د "کُلُوا وَشْرَبُوا وَلاتُسرِفُوا "ارشادپه پام کې ونيول سي،د ټولو په خيربه تمام سي.

داپرېل پر۲۲مه (دثوراوومه) ترغرمې وروسته داطلاعاتووکلتورپه رياست کې ئې زماله پاره يوه غونډه جوړه سوې وه چې پروالي ښاغلي پوهنوال دوکتورتوريالي ويسااودولايت پرمرستيال ښاغلي پتيال سربېره دښارزياتروفرهنګپالوخلکوپکښې برخه اخيستې وه. غونډې ته په خاصه توګه ددکتورعبدالرازق پالوال، الحاج حيات الله رفيقي، الحاج فضل محمدپنهان، انجنيرشېرشاه رشاد، ښاغلي نجيب الله هوتکي اودکندهارپوهنتون نورواستادانوراتګ اودهغوی ويناوواو دغه رازدکندهاردځوانوفرهنګيانومخلصانه بيانيواوولولوزماپر اوږوباندي داحسان اومنني دروند پېټی کښېښوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library






دویناووپه منځ کي دمازیگرلمانځه داداکولوپروخت دغونډې دبرخه والوډېرښت دغونډي مسئولین مجبورکړل چي درياست دودانۍ بل غټې تالارته دغونډي مېزوچوکۍ اونورلوازم نقل کاندي. ددغي غونډي دویناکوونکوترویناووروسته ماهم خبري وکړې اوپه خبرو



(c) ketabton.com: The Digital Library



کي مي پرنورو موضوعګانوبرسېره دافغانستان پرسرنوشت باندي د کندهاردرول پراهميت باندي دتاريخي مثالوپه راوړلوسره وړغېدم.




ما خپله ويناد مابنام لمانځه دقضاکېدلوله ببري رالنډه کړه. ددغي غونډي ټول جريان دکندهارتلويزيون پرپرده باندي په ځوټپاله خپور سو.



(c) ketabton.com: The Digital Library



کندهارته زمادسفرپه شپوورځوکي به حمدالله صحاف زیاتره کورته راتلی اوکله به زه عینومېنې ته ورتلم اوله نورودوستانوسره به مي دی هم لیدئ.داپرېل پراووه ویشتمه خبرسوی وو ،چي زه په عینومېنه کي دخپل خوریي په کورکي یم . دغرمې په شاوخواکي ئې ځان راورساوه اودیوې پښتنې شاعري شعري مجموعه ئې راته راوړه. داشاعره دزابل ولایت دشاه جوی اوسېدونکې ده اوحنیفه زاهدنومېږي. مجموعه مي له ځان سره کورته راوړه اوڅوورځې مي ئې داشعاروله ویلوڅخه خوند واخیست. کله چي دسفرپه پای کي مخ پرکاناډارارهي کېدلم، دغه مجموعه مي بیرته له یوه یادابنت سره صحاف صاحب ته ورولېږله.

داپرېل پراته ویشتمه مي دکندهاردیوې محلي رادیوله خبریالانو ښاغلووطنوال اونوري سره اوږده ادبي مرکه وکړه. مرکه وال دهیلمند ولایت څخه راغلي زلمیان ول چي اوس په کندهارکي میشته دي، دارادیو "وړانګه " نومېږي چي دمسئولینوپه ګډون ئې دنامه په وینګ کي فشارپرلومړی څپه اچوي. دانا سم تلفظ دهغوتلفظي بدعتوپه جمله کي راځي چي مائې یادوني پخپلولیکنوکي کړي دي. د " دنده "، "خواله " اودې ورته نوروکلماتوفشارونه هم زموږویندویان پرلومړی هجاراوړي چي سم وینګ ئې ددوهمي هجاپه فشاردئ. دمرکې په ترڅ کي مي ددغه ناسم تلفظ یادونه هم ورته وکړه. مګردانا سم تلفظونه اوس دونه عام سوي دي چي داصلاح کولوهڅه ئې، ببرېږم چي هیڅ ځای نه نیسي.

ترمرکې وروسته چي کورته دښارله مرکزڅخه دوستان دلیدني کتني له پاره راتلل، په ښارکي ئې، خصوصاًبیادعیدګاه دروازې اودولایت دودانۍ په شاوخواکي ئې دوضعي دناارامۍ خبرونه راوړل. څرخې الوتکي زموږدکوروپرسروپه ټیټه ارتفاع ګرزېدلې. دښارله نورو برخو څخه دوستانوتیلفونونه راکول اوله کوره دنه راوتلوسپارښتنه ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوله. ماته راغلومېلمنوهم مجلس پرنیمګورپرېښاوه اوځانونه ئې تر خپلوکوروپوري ورسول.

وروسته خبرسوم چي دووتنوځانمرګودولایت پردفتربرید کړی وواود بریدهدف ئې په سرسره والي وو. دواړه بریدکوونکي له منځه وړل سوي ول اومړه جسدونه ئې دشپې په تلوېزیون کي ښکاره کړل. ویل کېدل چي دي دووتنوپه خپلوبوټونوکي توپنچه پټه تېره کړې وه. په پېښه کي دوه پولېس مړه اویوتن زخمي سوی وو. دپېښي په جریان کي ځینوآژانسوخبرونه خپاره کړل چي والي له خپل دفترڅخه په هلیکوپتر کي ایستل سوی وو ، خوورروسته داخبره هم دسرکاري مطبوعاتوله خواردسوه اوهم عیني شاهدانوناسمه وبلله.

په یوه هیوادکي چي دځلوبښتوممکلتوعسکردامنیت ساتلوله پاره حاضرسوي وي، ددغه رازپېښوپېښېدل، عاموخلکوته دتعجب وړ ګرزي.

دپېښي په سبانه تاکړې، نه ما. دښارخلک بیرته خپلوکارونوته روان ول اودپرون پرحادثه باندي هرچادخپلوشخصي دلچسپیوپربنسټ اوږدې تبصرې کولې،خودژوندکاروباردپخواپه شان روان ووااوکومه جدي وقفه پکښې رانغله.

ددغي پېښي په ماښام یوه محصل دکندهارپوهنتون دښووني او روزني پوهنځي په کلنۍ مشاعره کي دګډون له پاره دبلني کارټ کور ته راووړ. پربلنلیک باندي ددغه پوهنځي درئیس ښاغلي عبدالرحمن بابي لاسلیک لیدل کېدئ. عبدالرحمن بابي اوماپه عالي دارالمعلمین کي یوځای درس لوستی دئ. دی دشهیدعبدالمجیدخان بابي مشر ورور اوزماله صمیمي دوستانوڅخه دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه شپه ښاغلي همت صاحب له کابله ټيلفون راوکړاوهيوادته ئې زمادسفرله بابته خوښي وښووله. په کابل کي مي ورسره دليدني کتني نرۍ وعده مي وکړه چي له بده مرغه مي وفاپرونه کړه. ځکه په کابل کي ماصرف دوې شپې تېري کړې اوهغه هم دخپلي کورنۍ له غړوسره داسي مصروف وم، چي بل ځای ته مي دتلومجال ونه موند.

داپرېل پرنهه ويشتمه دغرمې پردووبجوپوهنتون ته دمشاعرې له پاره په ريکشاکي ولاړم. دوستانومخکي لاهم راته ويلي ول، چي مشاعرې ته دتگ وسيله به راته برابره کړي، خوماته هروخت دخپل اختيارتگ ترتشريفاتي تگونوغوره وي. په ريکشاکي دپخوانۍ عيدگاه مخي ته تېرسوم اودلويي وياله (ظاهرشاهي کانال) پرشمالي څنډه چي اوس پوخ سړک دئ، ترپوهنتون پوري ولاړم. دپخوانۍ عيدگاه وداني چي داحمدشاهي عصرله يادگاروڅخه وه، اوس دمحمودطرزي په نامه يوه لېسه پکښې تاسيس سوې ده. دعيدگاه لويديځ ته دسړک پردواړو غاړودوکانونه ودان سوي دي.

دپوهنتون په دروازه کي مي هم پيره دارته ځان ورونه ښود. هغه تر تلاښۍ وروسته راته وويل چي "حاجي صاب، دغه سړک سيده واخله، يوڅوک به دمشاعرې ځای دروښيي". ترښه اوږده پياده مزله وروسته د ښووني اوروزني پوهنځي رياست ته ،چي په دوهم پوړکي وو ،وروختم . دپوهنځي رئيس عبدالرحمن بابی مي له نژدې شلو کالووروسته وليد. زماپه ليدوسره له ځايه اوچت راولاړسو اود محبت وصميميت ټينگ روغبړموسره وکړ.ورو ورونوردوستان هم راپيدا سول. دپوهنتون رئيس ښاغلی توتاخېل،مرستيال ئې ښاغلي عبدالتواب بالاکرزی اونوراستادان درياست اطاق ته راغلل. ترچايو څښلووروسته د مشاعرې سالون ته چي دنوي عيدگاه دودانۍ په يوه څنډه کي واقع وو ، ولاړو. دغه سالون اصلا دمحصلينودډوډۍ خوړلو ځای دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library






مشاعرې ته دپوهنتون ډېرى محصلين راغلي ول اومشاعره دمازيگر تراذانه پوري روانه وه. زه ئې دوه واره ستېج ته وروبللم او ځينو محصلينو ته ئې سوغاتونه هم زما په لاس ورکړل. ترمشاعرې وروسته د پوهنتون رئيس اونورومقاماتو دپوهنتون دفعاليتو په باب د محصلينو په مخ کي تفصيلات راکول.

دمشاعرې په غونډه کي ښاغلي سيد حبيب الله روحاني دخپلو اشعارو دوې چاپي مجموعې راکړې.

زه چي دشپې کورته راغلم، جيبي تيلفون ته مي يوه نامعلوم شخص، چي ځان ئې دپوهنتون محصل راته وښود ،تيلفون راوکړاوراته وئې ويل چي موږمحصلين خوراډېري ستونزي لرواودمقاماتو نني ـ څرگندوني ټولي دمنلونه دي. دپوهنتون دتشنابوناوړه حالت ئې د شکايتو په سرکي راته ووايه. ددغه حالت اوبدبويي شاهدزه پخپله هم وم. مسئولومقاماتوهم دمسئلې جديت مانه او په ټينگه ئې راته وويل چي ددغي معضلې دحل په لارکي ئې هڅي رواني دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داپرېل پرډېرشمه ( د۱۳۹۱ ش کال دثوريوولسمه) دسهارپراته نيمو بجوله استادحيات الله رفيقي او دحضرت ولي سره په عينومېنه کي دملالۍ په نامه دنوي پوهنتون دپرانيستلوغونډي ته ورغلم. بلنليک ئي تېره ورځ دکندهارپوهنتون درئيس ښاغلي طوطاخېل له خوا راسپارل سوی وو. په غونډه کي محمودخان کرزی اونورلويان هم ناست ول. ملالۍ پوهنتون يوشخصي پوهنتون دئ اوماواربدل چي مالي چاري ئي په محمودخان کرزي پوري اړه لري.

دغونډي په پيل کي ددغه پوهنتون تاکل سوي مشرپخپلوخبروکي په تکرارسره داټکی بيان کړچي دی په ټول کندهارکي وګرزېد ، خوددغه پوهنتون دبورډ له پاره ئي يوپوهانددواکټرلاهم پيدانکړ. له ناچارۍ څخه مجبورسوچي دبلي سيمي کوم پوهاندورته ومومي. دغه مکرره اودردونکي يادونه پرماباندي لړځه درنه سوه اوخپل شاګردپوهنوال ډاکټرعبدالواحدوثيق ته مي ،چي څنګ ته مي نږدي ناست وو، دزړه له درده،خوظاهراً په ټوکووويل: " ډاکټرصاحب پرداپوهاندي مو يوڅه چټک کاروکړئ اودغه علمي رتبه ترلاسه کړئ ،چي له دغه راز پېغور څخه خوخلاص سو ! " ده ډادراکړچي پرتېبسس باندي کار کوي اود دفاع له پاره ئي چمتوکوي. پوهنوال ډاکټروثيق دلېسې په ټوله دوره کي زماډېرلايق شاګرد وو.

دغه ټوله ورځ زماپه ذهن کي دميرزاعبدالقادربيدل (۱۶۴۴ ـ ۱۷۲۰ع) دغه لاندي شعرهيسته و دوري کېدئ:

يادآن فـــــرصت که عيش رايگانی داشتيم
سجده ای چـــون آستان،براستانی داشتيم
يادآن ســـامان جمعيّت، که درصحرای شوق
بس که می رفتيم ازخـــود ،کاروانی داشتيم
يادِآن سرگشتگی،کزبستنش چـــون گردباد

(c) ketabton.com: The Digital Library




درزمین خـــاکساری،آســـــمانی داشتیم
گردِآسودن ندارد ،عـــــــرصه جولانِ هوش
رفت آن کزبیخـــــودی،ضبط عنانی داشتیم
دست ماودامن فـــــــــرصت،که تیرنازِ او
درنیستان بــــود ،تاما استخوانی داشتیم
ذوق وصلی گشت،بـــــــرقِ خرمنِ آرامها
ورنه مادرخاک نومیدی، جـــهانی داشتیم
ای برهمن،بیخبرازکیشِ هـــــمدردی مباش
پیش ازین ماهم،بت نامـــــهربانی داشتیم
هرقدراوچهره می افــروخت،مامی سوختیم
درخورعرض بـــــــهارِ او ،خزانی داشتیم
درســــــــــراه خیالش،ازطپیدنهای دل
تاغباری بود ،مابرخـــــودگمانی داشتیم
دست مامحروم مـــاند ،آخرزطوف دامنش
خاکِ نم بــــــودیم، گردِ ناتوانی داشتیم
روزوصلش بایدازشـــــرم آب گردیدن که ما
درفراقش زندگی کـــــردیم وجانی داشتیم
خامشی صدنسخه آهنگ طلب،شیرازه بست
مدعاگــــــــم بود ،تاسازِ بیانی داشتیم
شوخی رقص سپند ، آمـــاده خاکستراست
سرمه سایی بود ،اگـــرذوق فغانی داشتیم
جرأتِ پروازهـــــرجانیست "بیدل" ورنه ما
درشکست بال،فیض آشــــــیانی داشتیم

ددغي ورځي دنامېنديودردمي دراتلونکي وخت دامید په پتۍ باندي ټکورکړاویوخه په آرام سوم.

دهمدې ورځي په غرمه په ماله جات کي بیا یوه واده ته خبرسوی وم. واده ته ترتګ دمخه دحاجي میرویس نیکه زیارت ته ولاړم. ترزیارت کولو وروسته مي دقبردډبري لیکنه رانقل کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library




دميرويس نيکه دزيارت دکتيبې ليکلو پروخت

دغه کتيبه په ۱۳۱۱ ش کال ليکل سوې ده. دکتيبې ليکدودد وزير محمدگل خان مومندله خوا ايجادسوی رسم الخط دئ ، خوپه محوري افعالوکي ئې د(ش) پر ځای (س) کارکړی دئ اوداکارپردې خبره باندي دليل کېدلای سي چي وزيرصاحب مرحوم هم په دې برخه کي د(س) او(ش) دواړوکارول صحيح گڼل . داکتيبه چي ځيني توري ئې ماپه اوسني مروج ليکدود را اړولي دي، داسي ده:

" دامرقددښاغلي توريالي پښتون اومحرک دآزادۍ دپښتنانه مرحوم حاجي ميرويس خان نيکه هوتک دی چه پره دي ئې له خپلي ښادمني مبني په مېړانه وويستل اوپښتنانه ئې له استيلاڅخه دمتجاوزينو ازادکړه اته کاله ئې حکومت وکئ اوپه کال ۱۱۲۷ هق يوزراووه ويشتم قمري کال کي دهجرت وفات سوی دی.پخواهم خورامناسبه لوحه ئې درلودَ مگرپه وخت دتجاوزات داجانبه اوجگړولوحه ئې ورکه سوه .په کال ۱۳۵۱هق ۱۳۱۱هـ ش په دريم کال دسلطنت داعليحضرت پښتون محمدنادرشاه په توجه دښاغلي پښتون محمدگل خان مهمندرئيس تنظيمه دقندهارپه يادگاردحميت اولوړوخدمتوددې ننگيالي پښتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوښاغلي نيکه اودپاره داحياء د ملي افتخاراتوبيادامرقدنوی ودان اوتعميراواحاطه ئې ارت اويوه باغچه ورته سازکړه سوه اودالوحه د رياست بلديه له خوا وليکل سوه.

دننګ توته به مي هرهډوي
چه پس له مړيني مي پرګوررا سي مينه "

په دغه ورځ مي دخرقې مبارکي ترزيارت وروسته دمازيګرلمونځ د لوی احمدشاه بابادمقبرې پرتنګاچه اداکړ اودمعاصرافغانستان د بنسټ ايښوونکي پاک روح ته مي دمغفرت اودزماني له مصائبوڅخه د افغانستان دنجات له پاره ډېري دوعاوي وکړې.



دلوی احمدشاه بابامقبره

ترهغه وروسته مي دلوی احمدشاه بابادمقبرې شاوخوادځينو قبروشنختي وکتلې ، خو د وخت دتنګوالي له اسيته مي ددغوشنختودرانقلولو کاربل وخت ته پرېښوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمی پراوله (۲۰۱۲ع) دشپې له خوادحاجي محمدولي خان کره په عینو مېنه کي مېلمه وم. ډېرخلک ئې خبرکړي ول. دکندهاردښووني او روزني رئیس ښاغلی صافي صاحب اوملګري ئې هم دعوت کړي ول. دکندهاردښووني اوروزني په برخه کي موښه ډېربیانونه سره وکړل. په دغه مېلمستیاکي مي ځیني دوستان له دېرشوکالووروسته ولیدل.

په داسبائې دسورغراخبارهمکارښاغلي عبدالواسع هڅیال دمرکې له پاره ټیلفون راوکړ. تریولړسرګردانیووروسته ئې کورته ځان راورساوه اومفصله مرکه مي ورسره وکړه. دخپل ژوندپرلوړوځوړاودپښتوژبې پرلیکدود مواوړدبحث وکړ. وعده ئې راسره وکړه چي ترخپرېدودمخه به ئې یوواروزماترنظرتېروي.

عبدالواسع هڅیال دکندهاردمشهورمحلي شاعرملاعبدالمنان اخوند لمسی دئ. زماڅخه ئې دخپل مورني نیکه، ملاعبدالمنان اخونددېوان دچاپ په باب پوښتنه وکړه، ډاډمي ورکړ، چي دهغه دېوان دکار هغه برخه،چي په مائې اړه درلوده، بشپړه سوې ده. دېوان مي تصحیح کړی دئ اوسریزه مي ورته کښلې ده. نوردچاپ انتظار کاږي.

دمی پردریمه (دغوایي ۱۴مه ـ ۱۳۹۱ش) دکندهارپه عالي دارالمعلمین کي مشاعره ترتیب سوې وه. ګډون مي پکښې وکړاولنډه وینامي هم وکړه. په هغې کي مي دخپل تعلیمي جریان په باب، چي د هغه وخت په ده خوجه ښوونځي کي مي کړی وو، ځیني خاطرې بیان کړې . ده خوجه ښوونځی دهمدې اوسني عالي دارالمعلمین پرځای ودان وو. محترم پالوال صاحب مشاعرې ته ناوخته راورسېد.په دغه مشاعره کي مي خپل همصنفي، فضل محمدخان پسله ځلوېښتوکالو ولید. دی اوس په تجربوي ښوونځي کي سرښوونکی دئ. دزلمیتوب د

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت عکسونه ئې چي ګډموسره اخيستي ول، ورسره راوړي ول. د هغود راښوولوپروخت ئې دپخوانيووختوپه ارمان په سترګوکي اوښکي ودرېدلې.

دمشاعرې له نيمايي څخه دعبدالواسع هڅيال په ملګرتيادروهي ادبي بهير اووه نيزي غونډې ته ورغلم. دبهيرغونډې دکاربزبازارپه يوه کورکي کېږي. موږدرسېدلوپروخت دبهيرغونډه پيل سوې وه اوديوه زلمي شاعرپرشعرباندي بحثونه روان ول. ددغه شعردمطلع يونيم بيتی داسي وو: "خاني نه غواړم فقيريم ستاله پاره"

دکره کتني په پای کي مااوږده ويناوکړه. دژبي پرعمومي قوانينو، د واحدليکدودپراوسني حالت،دژبي په ګرامرکي داوازوپررول، اودا چي ګرامرداوازوله مخي جوړېږي نه دليک له رويه، داچي ليک وروسته دئ اودژبي قاعدې ترهغه وړاندي جوړي سوي اوبشيړي سوي وي. د دې موضوع له يادولوڅخه مي مراددااوو،ځيني کسان چي دکلماتودجمع قاعده داوسني ليکدودله مخي دکلماتودپای د(هـ) له رويه ټاکي، تېروتلي دي اودژبوله عمومي کلياتوڅخه سرغړونه کوي. دغه رازمي د(چې،چي ـ مې، مي ـ کې،کي) په برخه کي داوږدې (ياء) دعامېدلوپرتاريخي لرليدروڼاواچوله اوهغه مي دهندي اواردوژبو اغېزه وبلله. په خبروکي مي دځوانانوترمنځ پريووالي اوږدبيان وکړ، د هغه په ترڅ کي مي هغوشيطاني توطئوته هم اشاره وکړه چي غواړي پښتانه پخپلومنځوکي سره واچوي اوسره ببل ئې کړي. دوينا په پای کي مي ددوی ځينوپوښتنوته جوابونه ورکړل اودبهيرپه بله غونډه کي مي دګډون په وعده رخصت ځني واخيست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دبهېردغونډودغه تالاردادبي ستوروپه عکسونوښکلی کړه سوی وو. دعلامه رشادباباعکس پکښې نه وو. ماپردغه غفلت باندي اعتراض وکړاوپه دې باب مي هيڅ رازپلمه موجه ونه بلله.

دبهېرددغي غونډې دبرخه والوله خولومي ځوځواره واورېدل چي زماله ځرګندونوڅخه ئې ډېررضائيت درلود.

په دابله پنجشنبه په کورکي په دې نيامت منتظرناست وم، چي له بهېروالوڅخه به مي يوڅوک غونډې ته بوزي، ځکه زه دښاردنووکوڅو او ودانيوله اسيته په دغه سيمه کي بلدنه وم چي پخپله ورغلی وای، خوڅوک رانغله اوپه غونډه کي دنه ګډون ارمان راسره پاته سو. زماد سفرپه پای کي چي بهېروال کورته راغلل، هغوته مي داموضوع بيان کړه او داسي راته ښکاره سوه، چي په دې باب دتفاهم نيمګړتياغبزه کړې وه اودوی زمادانتظارله بابته ډېرمتاسف سول اوعذرئې وغوښت. ګران هځيال ته دې خدای خيرورکړي دبهېرله غونډې څخه ئې ترعينو مېني پوري زه پخپل موټرکي ورسره بوتلم. په دغه شپه دښاغلي کاکا اسدالله خان کره مېلمه وم. پرنورومېلمنوسربېره صحاف صاحب او ګران روهيال هم راغلي ول. دمجلس په جريان کي کاکااسدالله خان يو شمېرخطي نسخې راښکاره کړلې. په هغوکي دتهذيب الواجبات يوه خطي نسخه هم وه. ماته دانسخه اشناغوندي وايسېدله. کاکاراته وويل چي کابل ته يوچاله پېښوره راوړې وه اوده په پيسوئني اخيستې وه. نسخه چي ماوکتله، راته ځرګنده سوه چي داهماغه نسخه وه چي د مولوي صالح محمدخان په کتابخانه کي ساتله کېدله اودنسخود مهاجرت په لړکي ترپېښوره اوکابله پوري رسېدلې اوبيرته خپلي اصلي مېنې، کندهارته راستنه سوې وه. داخبره مي له حاضرمجلس سره شريکه کړه چي دحاضرينوله خوائې دموافقې اړخ يوځه کمزوری راته ښکاره سو. وروسته چي مي نسخه پاڼه په پاڼه واړوله راواړوله، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاڼوپه منځ کي مي یولیک وموندچي زماداکا(تره)، حاجی عبدالباقي له خوامولوي صاحب مرحوم ته لیکل سوی وواودلیکلو نېټه ئې، که مي حافظې غلطي نه وي کړې، یوزرودرې سوه اووه ویشت لمریزکال وو. په دغه لیک کي زموږدکورنۍ دنارینه او ښځمنونومونه راغلي ول چي دسلام رسولوپه نیامت لیکل سوي ول. لیک مي کاکاته دخپلي خبري داثبات په خاطر ورکړاودساتلو سپارښت مي پروکړ. څوورځي وروسته چي بیادکاکااسدالله کورته ورغلم، لیک ئې راښکاره کړچي پریوه بل کاغذباندي ئې دلاښه ساتني په نیامت سرېښ کړی وو اود کاغذپرشائې دهغي شپې ټول بیان اودنسخې په باب زمامعلومات پخپل خط لیکلي ول.

کاکااسدالله خان دکندهارپه فرهنګي کسانوکي دقدروړسړی دئ چي د خپلي سرمایې ښه ډېره برخه ئې دهیواددورکوسووکتابوپه بیرته موندلوکي لګولې ده اولګوي ئې. دده په لاس موندل سوي نایاب کتاب، دسیدجمال الدین افغان تتمة البیان فی تاریخ افغان پښتو ترجمه ماخوکاله دمخه چاپ ته تیاره کړه اوپه جرمني کي دافغاني کلتوري ټولني له خواچاپ سوه. دغه کتاب اوس دکلتوري ټولني په موافقه دکندهارداطلاعات وکلتورریاست په همت دوهم وارچاپ سوی دئ.

دمېلمستیاپه داسبا، دجمعې په ورځ ارغنداوته ولاړم. ټوله ورځ مي په باغ کي له خپلوپخوانیوملګروسره تېره کړه. توتوسپینه دانه اچولې وه، خودراټک وهلونه وه. دانارو درختي په سروګلانوپټي وې. د ارغنداوننداره ډېره په زړه پوري وه. مازیګررودخانې ته ورشوه سولو. پررودباندي نوي جوړسوي پله ته ولاړو. دخلګودزیاتي ګڼه ګوڼې له اسیته ډېرپاته نه سولو. دارغنداوپه رودکي دسږکال دبارانوله اسیته ښه ډېري اوبه بهېدلې اودکال دابادۍ زېری ئې ورکاوه. دکندهارباغ

(c) ketabton.com: The Digital Library



والاپه تېروڅوکلونوکي دسرپرسروچکاليوله اسيته ډېرتاواني سوي ول اوددې وچکاليواغېزو عام اولس ته هم تاوانونه رسولي ول. سږکال بدنه وو. دخلکوامیدونه زيات ول.

پريوقوم چي دجګړومصيبت نازل سي، پرځنګ ئې اسمان هم ورسره مرورسي . زموږدهيوادپه جګړوکي رالوی سوي نسل ته دغه ترخه واقعيتونه څووارہ په اثبات رسېدلي دي. پاک خدای دي دسولي او آرامۍ کلونه يوواربياپردغه دردېدلي،څورول سوي اوکړېدلي ملت باندي راولي.

دکندهارپه اوسنيوتعميراتي پراختياووکي ددغي سيمي دځينو مشاهيروقبرونه لاندي سوي دي. ماته دځينوزلميوله خواوويل سوه چي دپيرمحمدکاکړقبرديوې ودانۍ په منځ کي راغلی دئ اوګوياله منځه تللوپه حال کي دئ. داخبره ماته دزياتي خواشينۍ اواندېښني وړوګرځېدله. ددغه قبراونوروماته معلوموقبرونودليدني کتني تلاښ مي شروع کړ. ګران ستارجان مهتابي راته وويل چي دپيرمحمد کاکړ قبرپاته دئ، خوځرنګه چي ځنګ ته ئې يوحمام جوړسوی دئ اودحمام دبدرفت اوبه دقبرپرلوربهېږي، ځکه ئې نودقبردله منځه تلوامکانات برابرکړي دي. دقبردموقعيت په برخه کي بايدووايم چي دحضرت جي بابادزيارت ترکوڅې چي پرعمومي جاده باندي لويديځې خواته څوک ولاړسي، يوه کوڅه مخې ته راځي چي عمومي هديرې ته وتلې ده . دپيرمحمدکاکړقبرپه دغه کوڅه کي واقع دئ.

ستارجان مهتابي ته مي سپارښتنه وکړه چي ددغه قبرعکسونه برابر کړي . په دغه وخت کي زه کاناډاته راغلم. له دې ځايه مي بياله ګران مهتابي سره دتيلفون له لاري خبري وکړې. هغه ته دي پاک خدای

(c) ketabton.com: The Digital Library



برکتونه ورکړي، دغه عکسونه ئې له لیک سره یوځای راولېږل چې زه ئې دیونلیک درنولوستونکوته جنساً وړاندي کوم:

Date: Fri, 15 Jun 2012 04:31:36 -0700
Subject:
From: satar.mahtabi@gmail.com

To: mhotak@hotmail.com

سلامونه نیکي هیلي محترم استاده لوي ښتن دي وکړي چه جوړ اوروغ به یاست هغه تصویرونه مي درته ولیږل امید سته چه ترلاسه به یي کړي اوبله خبره دپیرمحمد کاکړ قبرپه بشپړه توګه له منځه تللي دي که توجه ژر ورته ونسي شاید دقبرنښاني ټولي ورکي سي حال داچه ځلور کاله مخکي په ډیرزیار سره موږ دکندهار ټلویزون له لاري ډه ډیرو مشاهیرو چه نومونه یي ورک سوي وه پیدا اوترڅنګ مو ده دوي قبرونه پیداکړه چه له هغو دجملي څخه یو هم پیرمحمد کاکړ وچه هغه وخت مو عبدالمجید بابي ته وویل هغه قسم راکړي چه موږ دچاي پیسي هم نه لرو چرته دقبردجوړیدو لپاره یوه کال دمخه مو داموضوع بیاراپورته کړه رپورټ موپري جوړ کړپتیال هم پیسي نه درلودي کندهاروالي او ښاروال ته مو وویل ورسته هغو دغه حمام چه قبرته یي پوره زیان رسولي وبند کړ ښاروال موشهید سو والي صاحب تر اوسه څه نه دي کړي سلام کرزي ،شمس الدین کاکړ،ملامحمد عیس،محمد عمر اوداسي ډیري قبرونه موپیداکړه په سندرغاړو کښبي شامحمد ،اغامحمد، ولي محمد ،اوډیري داسي نورما دملامحمد عمر اوملامحمد عیس اخند په اړه ډیرڅه واوریدل دتلویزون لیدونکوته مي ده دوي دشخصیتونودښه پیژندولو لپاره مي ډیر معلوماتونه ټول کړل په اړمي مي ډیري ستړیاوي تیري کړي یوازني کس زه وم ده دوي دواړو عکسونه مي دښاروالي دلاري دتذکیروداموریت څخه ترلاسه کړه هغه تذکیري چه دوي ته ورکول سوي وي هلته مي ده دوي عکسونه پیداکړه اوعکاسي مو کړه محترم استاده نور دي وخت نه ځایه کوم پرلوي ښتن دي سپارم هرخدمت ته دي زه دورځي په شپه خوشحاله یم چه وي کړم درته ستا دامر به تمه یم په درښبت

عبدالستار

په لاندي عکس کي دښي لاس قبرچي ددېوال څنګ ته واقع دئ، د پیرمحمد کاکړ قبر دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library





زه ددې ليکني له لاري دکندهارله دولتي مقاماتوڅخه په ټينګه غوښتنه کوم چي ددغه قبرغم وخوري. لږترلږه دي يوکوچنوټې شنخته ورته وليکي اوپرشاوخوادې يوه پنجره راوګرځوي.

دخپل تلاښ په برخه کي دفاضل کندهاري مولاناحبيب الله اخندزاده (مشهورپه حبو اخند زاده) دقبرپه باب تشويش راولوېد. ځکه دغه قبردپخوانۍ عيدګاه ختيځ ته دسړک پرغاړه واقع وو. ماچي اوس ليدل چي ددغه سړک پر دواړو غاړوباندي دوکانونه ودان سوي دي اووېرېدم چی دغه هديره هم لاندي سوې نه وي. په دې لړکي مي دشهيدعبدالواسع اخندزاده لمسی دمرحوم عبدالباري اخندزاده (واسعي) کشرزوی شاه جان کور ته راوغوښت . ددوی دهډېرې پوښتنه مي ځني وکړه. دخوشالۍ خبره وه، چي دده له وينا سره سم،دغه هديره په تعميراتي برخه کي نه ده راغلې اوله سړک څخه دختيځ پرلوردمانده پرشرقي څنډه پرته ده. د حبواخندزاده قبرپه هديره کي

(c) ketabton.com: The Digital Library




معلوم دئ. لوی قبردئ او توري ډبري پرا چول سوي دي. ددغي هديرې لويه نښاني داده چي دمرحوم عبدالباري اخندزاده واسعي قبرشنخته لري اوددې شنختي له رويه د حبو اخندزاده صاحب قبرهم له چاڅخه نه ورکېږي.

هغه وخت چي شهيدعبدالمجيدبابی (۲۰۱۰ ع شهيد) دکندهارد اطلاعات وکلتور رئيس وو، زماڅخه وغوښتل سوه چي دکندهارد ځينوهغوعلماوو ليست ورته برابرکړم چي قبرونه ئې بايدجوړ او شنختي پرودرول سي. داليست ماله کاناډا څخه ورولېږه اوپه هغه کي مي دښارهغه مستحق علماء وروپېژندل چي مقبرې ئې معلومي وې، خويائې له سره شنخته نه درلوده، يائې دوخت په تېرېدوسره مقبرې نړېدل وې اوله سره ئې ودانېدل غوښتل. هغه وخت سرکارددغه نېک کارله پاره څه بودجه هم تخصيص کړې وه. دهغې پروژې درک بيا معلوم نه سواودبابی صاحب نوم هم حوادثودشهيدانوپه ليست کي وکېښې. اوس دکندهارله مسئولوچارواکوڅخه غوښتنه داده چي پردغه خيرباقي کارباندي اقدام وکړي اوځانونه ددعاوومستحق وګرزوي.

دمی پرپنځمه دماپښين پردروبجوحضرت ولي خان تيلفون راوکړاو دپوهنتون دبېلابېلوځانګودکتلوله پاره ئې دکندهارپوهنتون دعلمي مرستيال ښاغلي عبدالتواب بالاکرزي بلنه راورسوله.بالاکرزی صاحب دکندهارله ځوانوتحصيل يافته وو څخه يومنور، پروطن مين اوپخپل تاريخي رسالت پوه افغان دئ. په خارج کي ئې لوړتحصيلات کړي دي اوپرانګرېزي ژبه باندي پوره تسلط لري. ددوی کورنۍ په کوچني بالاکرزکي اوسېدله اواوس ئې هم څوکوره لاهورې اوسي. ددوی اکاارواښادسناتورصاحب عبدالرزاق خان بالاکرزی زمااشناوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library






دهمدې ورځي دمازيگرپرڅلورنيموبجوپوهنتون ته ولاړو. دکندهار پوهنتون بېلابېل ډيپارټمنټونه اوپوهنځي مي دښاغلوبالاکرزی، انجنير شيرشاه رشاد،عبدالرحمن بابي،حيات الله رفيقي، حضرت ولي او نورواستادانوپه ملگرتياوکتل. دپښتوڅانگي دوهم ټولگی موهم وکوت اوله محصلينوسره موله نژدې خبري وکړې. دپوهنتون کتابتون، دعلمي شوراتالار،دکمپيوټرخونه اونورئې دیادوني وړول. دغه رازئې دافغانستان په سطحه کي دلومړي ځل له پاره دکارموندلو څانگه (Career Centre) فعاله کړې وه. په دغه څانگه کي ئې له محصلينو سره دکارموندلواوريزومي (resumee)کښلوپه برخه کي مرسته کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library






ښاغلی عبدالتواب بالاکرزی او هوتک
دکندهار پوهنتون کتابتون

بالاکرزي صاحب پرنوي جوړېدونکي لابراتوار باندي دنامه ایښوولو په باب مشوره وغوښتله. ما داروا ښاد محمدصادق خان نوم ورته پېشنهاد کړ. صادق خان مرحوم دکندهار له ډېرو موفقو اولایقو ښوونکو څخه وو اوپه دغه ولایت کي ئې دلابراتوار دبنسټ ایښوونکي ویاړ درلود. داستاد محمدصادق خان شهید دغه لاندي عکس زماسره ووچي په ۱۳۳۸ش کال اخیست سوی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library





له کيڼ لوري:
استادمولانامحمداکرم خان، استادمحمدصادق خان، ....

ددغي کتني په جريان کي مو دعلامه رشادبابادمقبرې زيارت هم وکړ. ددغه زيارت په محوطه کي اوس داستادنوميالي، عبدالهادي ريشا ، عبدالهادي هاند ،محمدناصرنصرت، عبدالمجيدبابي اوغلام حيدر حميدي (ښاروال) قبرونه سته چي زياتره ئې په پاخه ډول جوړسوي او شنختي پردرول سوي دي.

دکتني په پای کي مي په مخصوص کتاب کي، په داسي حال کي چي برق نه وو اودښاغلوسيداحمدقانع اوحضرت ولي دلاسي تيلفونو د ځراغورونږاته لاسليک وکړاودغه ځلوريځه ، چي په هغه گړی مي جوړه کړه، ورته وليکله:

ودانوي چي پـــــوهنتونونه
راته روزي چي زلمي کدرونه
دمچېدودي، دافتـــخاردي
دغه لاسونه، دغه مـــغزونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يوه څلوېښتي په وطن کي



له ښي خوا:ښاغلی عبدالرحمن بابی، ښاغلی بالاکرزی اوهوتک

دکندهاربرېښنا په اوسني وخت کي ددغه ولايت جدي موضوع ده اود ښاراوسېدونکي دڅوکلونوراهيسي دکجکي برېښنا په اميدمنتظر پاته سوي دي. دښارله خلکوڅخه مي اورېدل چي دکجکي برېښنا په راوستلوکي عمدي ناغېړي کېږي اوامنيتي مسايل ئې هسي پلمه گرزولې ده.دښاراوسېدونکودبرېښناریاست درئيس ښاغلي انجنير فضل احمدخان پروطندوستۍ اوپاکنفسۍ باندي بشپړاعتماد درلود او ويل ئې چي دغه شخص په بېلابېلونظامونوکي دکارپه ډېرو سختو شرايطوکي خپله وظيفه په پوره ايمانداري سره سرته رسولې ده خودا چي " له يوه لاسه ټک نه خېژي " اودکابل مقامات هم له کندهارسره د موراومیرې چلندکوي، ځکه نودښارخلک دبرق له ستونزوسره مخامخ دي. دښارپه زياتروکوروکي خلکوجنرېټرونه اود(موَلِد ) په نامه يو راز بيټرۍ ايښي وې چي دتنويرله پاره ئې کارڅني اخيست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



انجنيرفضل احمدخان په کابل اوکندهارکي دڅولسيزو راهيسي د برېښنارياست درئيس په توګه کارکړی دئ اواوس په دې نژدوورځوکي تقاعدته سوق سوی وو.

ماچي به دبرېښناپه برخه کي دخلکوشکايتونه اورېدل، داسي فکربه مي کاوه چي زه دپنځوسوکالوپخواکندهارکي اوسم. هغه وخت به هم له برق څخه شکايت تربل هرڅه ډېروو. دکندهاريومحلي شاعراروانباد محمدصديق ادبيارخوپربرق باندي يوشعرجوړکړی وو، چي ښه ډېر کلونه دخلکوپه خولوکي وو.

دمي پرشپږمه دکندهارادبي انجمن يوشمېرغړي کورته راغلل اود "غاټول" په نامه ئې دخپلي دوې مياشتنۍ خپروني څوګڼې چي په يوه مجلدکي ئې ګنډلي اوزمانامه ته ئې اهداءکړي وې، راکړې. پرورځنيو ادبي موضوعاتواوژبنيوستونزومواوږدې خبري سره وکړې. ددغي خپروني ګڼې اوزمانورکتابونه مي دپوستې له لاري کاناډاته راولېږل. دهغودرارسېدلوتروخته پوري ددغي خپروني په باب دويلوڅه نه لرم. په دغوشپوکي دکندهارهواوروروګرمېدله. دورې وبادونه هم زيات ول. خلکوويل چي دادتوتودپخېدوګرمي ده اوهرکال په دغوورځوکي زياته ګرمي وه. زه چي دمهاجرت په پيل کي په کراچي (سندھ) کي اوسېدلم، هورې به ئې ددغوورځوګرمي د آم (Mango) دپخېدلو ګرمي بلله.

دمي پراوومه ،يعني کندهارته زماتررااتګ نهه ويشت ورځي وروسته مي ايله دونه موقع پيداکړه چي دخپل اعتيادپه حکم پرکتاب پلورنځيوباندي وګرزم. په سهارکي مي دارګ کتاب پلورونکواوپه سردارمددخان چوک کي مي افغان کتاب پلورنځي ته سرورښکاره کړاودخپلي خوښي څوکتابه مي رانيول. ترهغه وروسته مي په صرافي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماركيټ کي دحاجي ظاهرجان تجارتخانې ته سرورايسته کړ. دمېلمستياعکسونه اوسي ډي گاني ئې راکړې. په دغه مارکيټ کي مي په تصادفي توگه خپل هم صنفي اغامحمدخان وليد. دی دهغه وخت دپوليسواکاډيمي لوستې ده اودپوليسوافسروو. اوس تقاعددئ. دتېروو ختوپه يادمونبه اوږدمجلس وکړ.

دصرافۍ مارکيټ دسردارمددخان چوک جنوب ته پخواني توپخانې چوک ته نژدې واقع دئ. دامارکيټ دښارداسعاروسترمرکزدئ. په افغانستان کي تراوسه لاهم لويي تجارتي راکړي ورکړي په ډالرياکلداره سرته رسېږي. پخواورځنۍ سوداوي هم په ډالرکېدلې. خواوس په ورځنيوپولي راکړوورکړوکي دافغانۍ رواج زيات سوی وو. په دې برخه کي يوکيسه په دې ارزي چي وئې ليکم:

کورته په ريکشاکي روان وم اوريکشاوان ته مي دافغانۍ دنه لرلوله اسيته دسلوکلدارونوټ ورکړ. په لږڅه دردسره ئې مخ راواړاوه اوراته وئې ويل: " چي تاسي هم کلداري راکړئ، نوله نوروخلکوڅه گيله ده ". ماپه يوڅه خجالت آمېزه توگه ورته وويل: " وروره ! باوروکړه چي دم درحاله افغانۍ راسره نه وې ". غوښتل مي چي ورته ووايم چي زه له خارجه راغلی يم اوداکلداري له پخواني سفرڅخه راسره پاته وې اوغوښتل مي چي له ځانه ئې ليري کړم. ده لکه زمادمغزخبره چي ئې اورېدلې وي، راته وويل: " درپوهېږم چي له هاخواراغلی يې، خوموږ ته داټولي سرگردانۍ له دغوکلدارو او کلدارخېلوڅخه راپيښي دي. " مابياپه عذرورته ويل چي زماسره اوس نوري پيسې نسته، کورته چي له خيره سره ورسېدو، افغانۍ به درکړم. سړي په خنداراته وويل: " تاسي خوبه پرموږدمېلمستياحق لرئ، زماپيسې دي په مېلمستياکي درپاته وي، خوکلداري دي نه کوم". سړي زماله فوق العاده زيات ټينگارسره سره يوه حبه هم راڅخه وانخيستله اوورپسې ئې ترکوره پوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسولم او په مينه ئې خدای په اماني راځخه واخيستله. ماله ځان سره خپل يو بيت تکرارکړ:

له دې ښـــــــاره نظر مه اړوئ خلکو
پکښې اوسي اوس لاهم ځونازولي

په دغه شپه دحضرت ولي خان کره مېلمه وم. مېلمستياته دپوهنتون پرمرستيال ښاغلي بالاکرزي صاحب برسېره نوراستادان هم دعوت سوي ول. دپوهنتون دانجنيرۍ پوهنځي استادانجنيراحمدشاه هم راغلی وو. دی په مشرقي لېسه کي زماشاګردوو. ترانداز يې زيات احترام ئې راته ځرګندکړ. انجنيراحمدشاه ،چي له نامه سره اخندزاده ليکي، دکندهارديوه درانه علمي شخصيت مرحوم قاضي عبدالعلي اخندزاده کړوسی دئ. ددوی کورنۍ دکندهارپه ښکاپردروازه کي ميشته وه. دی دکابل پوليتخنيک انستيتوت ځخه په ۱۳۶۱ش کال



دد سترخان په مخامخ سرکي دکيڼ لوري اول تن چي توره لنګۍ ئې تړلې ده، انجنيراحمدشاه دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فارغ سوی دئ. له ۱۳۷۹ش کال څخه بیاترننه پوري د کندهارپوهنتون په انجنیري پوهنځي کي داستادپه توګه دنده لري اودتخنیکي رسم مضمون تدریسوي. په خپله رِشته کي تالیفات هم لري چي یودوه ټوکه ئې ماته هم راکړل.

دمی پراتمه مي د کندهارله "هیواد " تلوېزیون سره ادبي مرکه وکړه چي دمي پرلسمه د شپې پرلسوبجوئې له تلویزیون څخه خپره کړه. ترمرکې وروسته مي ددغه تلوېزیون له مسئول ښاغلي ناصرهوتکي سره دده دکارپه دفترکي وکتل. دی دکابل دئ اومنوردانشمندسړی دئ. پرمېزباندي زمادکتاب" پرمعیاري ژبه دمعیارپه ژبه یوه څېړنه" لومړی چاپ ورته پروت وو. په خوراعلاقمندۍ سره ئې دهغه پرمطالبوباندي تبصرې وکړې اوماته ځرګنده سوه چي دژبې دسوچه کولوپه باب مونظریات ډېرسره ورته ول. ده په دري ژبه کي هم ددغه رازبې سروښکره لاسوهنوڅخه شکایت درلوداودرهنوردزریاب پرنیولوګیزمونوباندي ئې سخت انتقادونه کول. دی له دي بابته ډېرمتاثروو چي هغه پخوانۍ خوږه دري ژبه اوس دځینوبې مسئولتیو قرباني سوې اودمسخ کېدلوپرخوااروانه ده. ناصرهوتکي د هیواد تلویزیون دمشرپه توګه درې میاشتي مخکي ټاکل سوی وو. زماسره ئې فوق العاده محترمانه وضع وکړه چي ددغي لیکني له لاري کورودانی ورته وایم.

هیوادتلوېزیون شخصي تلویزیون دئ اوپه قیوم خان کرزي اړه لري. مرکزئې په عینومېنه کي دئ.

زمامرکه ددغه تلویزیون له لاري څوشپې نشرسوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمی پراتمه مابنام مي دافغان تورک لېسې له تورکي مديراويوه استادسره دانجنيرعبدالهادي په کورکي وکتل. ددغی ليسې مديريوځوان تورکی وواوپه روانه فارسي ئې خبري کولې. افغان تورک لېسه دکندهارله ډېروښو لېسوڅخه ده اوزده کوونکي ئې دافغانستان اومنطقې په سطحه کې ښه ځلېدلي دي. زمادلېسې دوخت استادان ښاغلی نورالحق خان اوښاغلی غلام محمدخان ددغي لېسې په پرمختګ کې ښه پوره ونډه لري. استادحاجي نورالحق خان اواستادغلام محمدخان اوس هم په کندهارکې اوسي اومائې پخپل دغه سفرکي له بده مرغه دملاقات نېکمرغي ونه موندله. پاک خدای دې ژوندی لري. دکندهاردمعارف له ډېرولويومخکښواستادانوڅخه دي. په ډېروسختوشرايطوکي ئې ددغه ښاردبچيانوپه روزنه کې دتندي خولې تويې کړې دي.

تل ترتله په ښه نوم پايي ښاغلي.

دمی پرلسمه مازيګردمستقبل کلتوري مرکزته ورغلم. کتابتون مې وکوت. مسئولينوئې راته وويل چې په دغه مرکزکې زده کوونکوته مذهبي اوعصري تعاليم ورکول کيږي.

ددغه مرکزدودانۍ په يوه برخه کې ئې يوه ډېره شاعرانه باغچه جوړه کړې وه. په باغچه کې رنګارنګ ګلانواوپه قفسوکې دساتل سوو مرغانوربزونودباغچې ښکلاڅوچنده زياته کړې وه. ترناوخته مابنام پوري موپرهغه کوچنوتې تخت باندي ،چې دباغچې په يوه کونج کې جوړکړی وو، دګلانوله ورېم اودمستقبل کلتوري مرکزدمسئول له جالبوکيسوڅخه ښه پوره خوندواخيست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمی پردوولسمه بیاناروغه سوم اوداوارخبره انتهي بیوتېک ته ورسېده. سړه تبه راپوري وه. دمی پرديارلسمه په کندهارپوهنتون کې دانجنیرشېرشاه رشادپه نوبت یوه غونډه جوړه سوې وه اومادناروغی له اسیته پکښې برخه وانه خیستلای سوه. دخلیل جان سروري پرلاس مي خپل عذرورولېږه. انجنیرصاحب شېرشاه سمدلاسه ټیلفون راوکړاودداوډاکټررالېږلومسئله ئې راته وویله. مامننه څني وکړه ځکه دوارارسېدلې وه. خلیل جان په دغه ورځ دمرحوم مولاناابوالوفاء صاحب هغه لیک کورته راوړی وو، چې یووخت ئې له دکن حیدرآباد څخه اروانښادعلامه رشادته رالېږلی وو. ددغه لیک متن ئې ټایپ کړی وو اوماورسره له اصل مکتوب سره مقابله کړ. دځینوځایوپه لوستلو کې ئې چې مشکلات درلودل، هغه مي ورته حل کړل. دلیک دمقابلې په وخت کې څوپلاخلیل جان زماناروغ حالت په کتلوسره راڅخه وغوښتل چې داکاربه بل وخت ته پرېږدو. خوماته دابوالوفاءصاحب مکتوب ډېرپه زړه پوري وواوسباته مي پرېښوولای نسوای. په مکتوب کې دافغانستان دهغوپښتنوعلماووپه باب معلومات ورکړه سوي ول، چې په هندوستان کې ئې دتدریس چاري مخ ته بېولې وې.

کندهارته دراتګ په لومړیوورځوکي ګران پتیال دطلوع افغان اخباردنوي یمي ( یونوي یمي )کالیزي اودپښتواوفارسي دېوان لرونکي کندهاري شاعراسلم لونې دسیمینارونویادونه راته وکړه اوزیاته کړه چې په کابل کي ئې له ښاغلي هیوادمل صاحب سره په دې باب خبري کړي وې. دده له خولې چې هیوادمل صاحب له دې اسیته خوښي ښوولې وه چې په دغوسیمینارکي به زه (هوتک) هم برخه واخلم. دسمینیاروورځې ئې دثوردمیاشتي ۲۵ ـ ۲۲ ورځې ټاکلي وې. ماهم دخپل سفرپروګرام له همدې نېټوسره عیارکړاودثورپر۲۷ مه مي کابل ته ټکټ واخیست. دثورپر۲۴مه دشپې ډاکټرتوریالي ویساتیلفون راوکړچې سیمینارونه دثور۲۷ مي او۲۸ مي ته وځنډېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دسيمينارودځنډېپه خبره زه په دغه ورځ دنوروکسانوله خولې هم غوربېدلی وم اوراته ويل سوي ول چي له کابل څخه سيمينارته راتلونکوکسانوته نورمهم کارونه پېښ سوي دي اوسمينارونه بايدورته معطله سي. ماچي يوه مياشت وړاندي له کندهارڅخه کابل ته، له هغه ځايه دوبۍ ته، له دوبۍ څخه لندن ته اوبياورپسې کاناډاته دسفرټول پروگرام دهمدې سيمينارونوله لومړنيونېټوسره عيارکړی وو، راته مشکله سوه چي په دغوسيميناروکي برخه واخلم. که څه هم دواړوته مي لږوډېره تياري هم نيولې وه. ښاغلي ويساته مي خپل دسفرعذرووايه اودهغوی له بيابياټينګارسره سره مي له بده مرغه ونه کولای سول چي ورته معطله سم. هغوی ته مي وويل چي افغانستان دناڅاپي حوادثودپېښېدوملک دئ اوداڅوک تضمينولای سي چي مقاماتوته دي کوم بل مهم کارپېښ نه سي اوسيمينارونه دي بيايوځو ورځي ورته وځنډېږي! ماته پخوالاهم ځينوکندهاريو فرهنګيانو شکايت کړی وو، چي دکابل مقامات بس څومحدودي ورځي مخکي حال راوکړي، چي پرپلانۍ موضوع سيمينار دئ، ځانونه ورته آماده کړئ، موږهم درروان يو. سيمينارته الابلا څه خاوري ايرې برابري سي اودکابل مېلمنوته هم ورځ دوې دتفريح زمينه مهياسي. ماته ددغه رازخبرواورېدل دخواشينۍ وړ دي. په دغه ورځ مي ارواښاد سردار داودخان شهيدته دزړه له کومي فردوس جنت ته دداخلېدلودوعاوکړه چي دده په وخت کي افغانستان دداسي شانداروعلمي سيمينارونو شاهدوو، چي بيابه ئې سارۍ ګوره په کوموپېړيوکي تکرارسي. سمدلاسه مي په دغوسيميناروکي خپل نه ګډون دنصيب پرغاړه ورواچاوه اوداخودذهني آرامش له پاره خورا ښه وسيله هم ده.

دمی له څورلسمي څخه مي کاناډاته دبيرته تګ تياري پيل اوله دوستانوسره مي دخدای په امانۍ په نيامت تيلفونونه شروع کړل.په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه ورځ ښاغلي فريدميوندي تيلفون راوکړچي دمی پر۱۲مه دچارشنبې په ورځ دکابل له لاري دوبۍ اوبياامريکاته روان دئ. کابل ته زمادتگ ورځ هم همدغه ورځ وه اودسفرالوتکه موهم يوه وه. په کندهارهوايي ډگرکی مودليدلووعده سره وکړه. په دغه ورځ ښاغلي عبدالعلي رسولزاده له سويډن څخه دايميل له لاري دميرزاحنان بارکزي په يوه بيت کی دسپلابونودبې نظمۍ په باب پوښتنه طرحه کړې وه چي جواب مي ئې په همدغه ورځ ورولېږه.

په همدغه نېټه دشپې له خواښاغلی صحاف، ښاغلی نجيب الله هوتکي اودروهي ادبي بهيرخونورغړي کورته راغلل. دبهيرپه غړوکي درحمت الله رحمت په نامه يوځوان شاعرهم وو. رحمت الله خپل خوشعري داستانونه راته واورول چي دښاغلي جهاني په تقليدئې دپندوعبرت پخوانۍ کيسې په نظم ويلي وې. گران رحمت ښه استعدادلري. دمالجات په ريگي کلاچه کي اوسي اوژبه ئې سوچه کليوالۍ پښتوده. خوراشاذاونادرلغات ئې په شعرکي راوړي ول.
په دغه شپه صحاف صاحب دعبدالرحيم هوتک ددېوان ديوې خطي نسخي بشپړه کاپي هم راکړه.
دمي پرشپاړسمه دسهارپرڅه کم نهوبجومي دکندهارهوايي ډگرڅخه په کام ايرالوتکه کي مخ پرکابل سفرپيل کړ. په الوتکه فريدجان ميوندي هم راسره وو. څه کم لس بجې وې چي کابل ته ورسېدو. دکابل په هوايي ډگرکي بکسونوته ډېروځنډېدو. که دفريدجان ميوندي خوږې کيسې اودپخوانيوسرگذشتونوبيان نه واى، دغه وخت به پرموږډواړوباندي ډېرغمېدلی وای.له زيات وکم دوو ساعتو انتظار وروسته راته وويل سول چي زموږبکسونه ئې له کندهارڅخه را اخيستي نه ول. علت ئې هم داراته ووايه چي دالوتکي وزن په زياتېدئ؟! راته وويل سول چي سباسهارراسئ، بکسونه به موله

(c) ketabton.com: The Digital Library



کندهاره په بله الوتکه کي رارسېدلي وي؟ په زړه کي مي وويل چي داخبري نوزموږپه ملک ستړه، ډېرچورت به نه خرابوو. ښه دئ چي په همدانن ورځ مي ددوبۍ دتګ پلان نه ووجوړکړئ. له ميدانه راووتلو.زه دخپلي خورځي له زوی احسان الله جان بري سره کورته روان سوم اوفريدميوندي ته رحيم الله هيلمندی راوتلی وو.

احسان الله جان بری خورالايق زلمی دئ. دطب تحصيلات کوي اوپخپل انستيتوت کي عمومي اول نمره دئ.

په کابل کي مي دوې شپې تېري کړې. ټول وخت مي دخپلي کورنۍ له غړوسره ليدنوکتنوته ورايستلی وو. ځايونه ليري ول، يوکورپه کلوله پشته کي، بل په خيرخانه کي ،بل په کلاچه کي، دانوته سره رسوه. په دغه ترڅ کي يوڅه وخت دکابل ښارنوته هم ورواېست اودمرغ فروشۍ کوځې ته ولاړم. دعلامه حبيبي کتاب پلورنځي ته مي هم سرورښکاره کړ. حاجي احمدپه دوکان کي نه وو. په دوکان کي ناست زلمي راته وويل چي کومي فاتحې ته تللی وو. دباران په شرپ کي مي دکلوله پشتې په نيامت په چارراهي صدارت کي يوبشپړساعت دسړک پرغاړه تېرکړ. داول ټکسي والاکراهيه يوڅه زياته راته وايسېدله. دسفرپه ورروستيوشپوکي خودمسافرجيب خالي سوی وي اوبې ځايه سراښتوب شروکړي. ماهم له ټکسي والاسره چنې پيل کړې. هغه لکه چي دونه وخت نه درلودپه منډه راځخه تېرسو. بيامي نو چي هرڅه وکړه ، شل مي نه کړه اوپه هغه نونسوپسي مي ارمان کاوه.هرټکسي ته چي به مي لاس پورته کړ،يابه ئې نته وکړه اوهيڅ به ئې ونه دراوه،يابه ئې ويل چي زمادا استوګني سيمي ته نه ځي. په دې کي يوساعت ووت.آخر مي له ځان سره ری وواهه چي هلکه ! شپه دي لکه چي دلې تېره کړه، پلار د خو غرانوګوډوم، هسي ئې ورکوه، لږوډېرته ئې مه ګوره، ځان ترکوره پوري رسوه. څوبالاخره يوټکسي راته ودرېداوزه هم دپيسوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتلو پرته دشاچوکۍ ته ورپورته سوم اوورته ومي ويل : " کلوله پشته ميرم، بيادر". کور ته مي دتگ په لارکي پرخپل غيرمترقبه سراښتوب باندي په زړه کي په کټ کټ خندل.کله کله خو به ټکسي وان لاهم پخپل ذهني مصروفيت راخخه پوه سواودموټرپه هنداره کي به ئې دسترگوتربغلو راته کتل. هرومروبه ئې په زړه کي داپوښتنه ورگرځېدل چي ددې سړی ولي له خپل ځان سره دونه سات تېرډئ !

پرلارچي مي دکابل کوڅواوجادوته کتل ، نووودانيوته مي کتل، راز راز خلکوته مې کتل ، راته څرگنده سوه چي نه کابل هغه کابل وو ،چي ماليدلی وو اونه کابليان هغه کابليان ول چي ماپېژندلي ول.

دمی پر۱۷مه کي بکس له کام ايردفترڅخه (کابل هوايي ډگر)څخه راوور. دسباله پاره مي مخ پرکاناډا دسفرترتيبات ونيول.

کندهارته مي روهيال ته مي تيليفون وکړاودټاکل سوي سيمينار پوښتنه مي څني وکړه. راته وېويل چي له کابله څخه استاد شپون صاحب، هيوادمل صاحب،دکتورلطيف بهاندصاحب، پوهاند باوري صاحب،انځورصاحب اولېوال صاحب اوڅونورکسان راغلي ول.داسلم لوڼ سيمينارتېرسواوسبادطلوع افغان سيميناردئ. ددغو دوستانود نه ليدوارمان مي پرزړه پاته سو. دغسي موقعگاني کله کله پېښېږي. خوځان راته مقصرځکه نه ښکارېدئ چي دسيمينارو څنډ د دوی له خوا پېښ سو.

دجمعې په ورځ (۱۸ مې ۲۰۱۲ع) دکابل له هوايي ډگرڅخه دماښام پرشپږبجي وپنځوس دقيقي مخ پردوبۍ دصافي ايرلاين په الوتکه کي والوتواوددوبۍ پروخت دماخستن پرنهه نيمي بجې ددوبۍ نړۍ وال هوايي ډگرته ورسېدو. صافي ايرلاين دافغانستان په هوايي شرکتو کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نسبتا ښه شرکت دئ. الوتکي ئې بدي نه دي اوسرويس ئې هم ښه وو، په نس ئې ښه ماړه کړو. په هوايي ډګرکی مي دسبا له پاره دالامارة هوايي شرکت بورډينګ پاس واخيست اودشپې تېرله پاره د همدغه ميدان په (Dubai International Hotel) کي دشپې تېرله پاره کوټه ونيوله. داهوټل ډېرلوکس خوبيخي ګران هوټل وو. ديوې رسالې دچاپ پيسې راځخه واخيستلې. خومابله چاره نه درلوده. درويشت ساعته انتظارپه بل ډول نسي تېرېدلای. په هوټل کي داړتياټول وسايل، تلويزيون،انټرنيټ،دمختصري ناشتاله پاره داوبوايشولولوښي، راز رازقهوې ګاني، دياداښت اخيستلواوځه ليکلوله پاره مېزوچوکۍ او دليک لېږلوله پاره هررازقرطاسيه اونورامکانات موجودول. شپه مي ښه په استراحت تېره کړه. سباته دناشتاله پاره لاندي منزل ته کښته سوم اوترچاى چښلووروسته بيرته اطاق ته راوختم. په اطاق کي مي د خپل ځلوبښت ورځني سفرخاتمه په دې ډول وکښله:

دکندهارښارپه تعميراتي لحاظ پراخ سوی دئ،نفوس ئې څوچنده ډېرسوی دئ،دښاردشاوخوااولسواليواودګاونډيوولايتوخلک ښارته راکوچېدلي دي. ځيني ئې دامنيتي ملحوظاتوله اسيته اوځيني ئې بياپه ښارکي دکارکولوله خاطره راکډه سوي دي. په ښارکي ترافيکي ازدحام تراندازې زيات دئ. دښاراجتماعي،اقتصادي اوکلتوري ترکيب پردابله رااوښتی دئ. داسي نوي خانان، نوي مخور، نوي سوداګر،نوي متنفذين، نوي معتبرين منځ ته راغلي دي چي څو کاله پخوا نه دوی چاپېژندل، نه ئې کورنۍ په ښارکي مشهوري وې.د پخوانيوپېژندل سوومخوررواوسوداګرکورنيوڅخه وډېرمحدودکسان اوس په ښارکي پاته دي. زياتره ئې ياپه ګاونډيوهيوادوپاکستان ياايران کي اوياهم په اروپاوامريکاکي اوسي. مشران ئې وفات سوي دي اوکشرانوئې دهماغوهيوادوخوی وبوی اخيستی دئ . داد

(c) ketabton.com: The Digital Library



خواشينۍ خبري دي خوواقعيتونه دي. دهيواددکونډوورنډوپه پيسو روزل سوي کسان تروطن دباندي پاته سوي دي، ياپاته کېدلوته اړسوي دي. دغه رازخبري نوري هم دکښلوسته خوبېربږم چي دلوستلو به نه وي.

دخپلي سفرنامې په پای کي پرځان لازمه بولم چي ووايم زه د ټولو هغو ښاغلودا احسانونواوقدردانيو مرهون يم چي مائې په وطن کي دمجلس اوليدنوکتنوويارموندلی دئ.ټول دي دپاک خدای په نازولو کي وشمېرل سي.

********

ټاکل سوې وه چي له دوبۍ څخه به ماپښين مخ پرلندن رهي کېږو، خوالوتکي څه عوارض پيدا کړل اوماز يگرقضاله دوبۍ څخه راوالوتو. لندن ته پرسيمه ييزوخت دشپې پريوولس نيمي بجې راورسېدواوپه داسبامي مخ پرټورنټوونيواودسهارپرلس بجې مع الخيرراورسېدم.

تردې اوږده سفرورووسته مي بيرته خپل يکنواخته ژوند شروع سو.

دکندهارخلکوبه پخوايووراشه درلوده چي "خواره بازاري، هغه ته هغه خواري" بيرته دخپل کورپه زېرخانه کي چي اوس ئې مو ږمهاجرلاهم بېسمنټ بولو،دخپل کارمېزته کښېنستم،قلم ته مي رنگ واچاوه او

(c) ketabton.com: The Digital Library





زمادکارمېز (دجون شلمه ۲۰۱۲ع)

کتابونه مي پرځان را وگرزول. دوه درې دېوانونه مي له ځان سره راوړي دي، هغه بايد ترتيب اوتحشيه کړم، دپښتومتون سمېدل غواړي دوهم ټوک له پاره مي ښه پوره يادانښتونه اخيستي دي، داهم پخېدل غواړي اوددې پرځنگ خپلي انبوهۍ هم راته پرتې دي چي که دژوند پرمېنه وم، کلونه کلونه مي مصروف ساتلای سي . مېرمني ته مي وويل چي دژوند اختيار خو زموږپه واک کي نه دئ مگرکه غواړې چي دمرحوم ملاعرب اخند خبره "په عالم کي داسبابو " زماژوندنورهم څوکلونه اوږدکړې، دخپل ورځني خرڅ څخه هره ورځ څوايکۍ سپموه اوماته ئې وطن دسفرد ټکټ اخيستلوله پاره راساته. راته وېويل: "دورې دي لکه چي خورا ډېرسات تېرسوی دئ " !

(پای)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**